#ابلیس ناول څلورم پړاو

ناول: زقوم

لیکوال: خواجه زي

نشرکونکې: خواجه زی خپروندویه اداره.

https://t.me/pashtoonovels0




Ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library

بِسمِ اَاَللّهِ اَاَلرحمٰن"

"اَاَلرحیم

ګنګس او نشه نشه وم، سترګي مې نشو خلاصولې
خپل د شاوخوا یو غږ مې لا صحیح نشو آوریدلې ټول
غږونه راته د مچې د بنګ،بنګ پشان تر غوږ کیدل کله
ناکله په نیم خلاص سترګو د موټر تګ او د نور
موټرونو د هارنګ غوږونه مې پیکه غوندی تر غوږ
کیدل او سایه مې ورځخه لیدل خو د هیڅ شي کامل
درک او تفکیک مې نشو کولې،پوهیدم چې شیبه په
شیبه د بدن تودوخه مې مخ پر پورته کیدو ده او بدن

ketabton.com - The Digital Library

مې خولې،خولې کېږی د بوډا غږ مې لږ،لږ تر غوږ کېده داسې لکه د یو لرې ځای څخه چې ماته ناری وهې.

بوډا- طاها ښه یې؟ زما غږ آوری؟

غږ مې لږ،لږ ورڅخه اوریده خو د ځواب ورکولو توان راکې نه وه، د موټر په ناڅاپه درېدو نږدې وو د موټر د سیټ څخه لاندی وغورځېږم چې بوډا ونیولم او هغه کس ته چې داسې موټر یې ناساپه درولې وو په غوسه وویل: ړوند یې؟ سترګي نلری؟ نګورې موټر کې ټپي دی؟ دا نو څنګه موټرواني ده؟

د هغه ناشنا کس وېرېدلې غږ مې واورید چې په بند،بند لهجه یې وویل: و ... وبخښې قوماندان صیب ... ه ... هغه فکر مې نشو ..
بوډا په غوسه وویل: فکر دی نشو؟ ته هم ځانته پولیس وایې؟ پوهېږې که په دی هلک کوم څه وشي نو څه مصیبت به جوړ شې؟

ketabton.com - The Digital Library

دومره ګنګس وم چې د بوډا د خبرې په مطلب هېڅ
پوه نشوم خو د هغه اندیښمن غږ مې واورید چې زما
اوریې وخوځول او زما د حال پوښتنه یې وکړل، خو زه
لکه یو نشه یې معتاد پشان چې تازه یې نشه کړې وی
داسې خمار،خمار زنګیدم او بغیر د څه ویلو مې
سترګي خلاصول او پټول،احساس مې کاوه په مغزو
کې مې په زرګونه او لکونه غږونه دې او ټول لګیا دی
په یوځل راسره خبری کوی ...

کله ناکله بیخې د دی ځای او مکان څخه لرې کیدلم او
یو بل ځای کې به مې ځان لیدو، د ماشومانو ژړا مې
اوریده د ښځو ساندی او کوکاری وي د سرېانو
فریادونه وه د سترګو وړاندی مې یو، یو تصویر مخ پر
بدلیدو وو، بیا مې سترګی لږ سره کش کړل مخ کې مې
بوډا وو چې د یو سرې سره چې سپینه چپنه یې
اغوستی وه او ډاکټر ښکاریدو یو څه ویل خو ما نه
اوریدل ...

ketabton.com - The Digital Library

خو دومره پوهيدم او درک مې کاوه چې نور موټر کې
نه يم، نور هغه ځای کې نه يم کوم ځای کې چې الفا د
يو وحشي ځناورو پشان خپل غاښونه زما او د عزيزی
د وژولو لپاره تيز کړی، يو ناشنا احساس راته ويل ځای
دی امن دی طاها .. نور د الفا لاس نه درسيږي، نور کوم
کس ستا د وژولو پسې نه دې ..ويده شه ... کرار آرام
وکړه ... ته په امن کې يې ... دومره دا احساس
ځواکمن وو چې بې اختياره مې بدن د هغه خبره ومنل
او سترګې مې پټې شول ...

***

مغزو کې مې د ټنګ،ټنګ آوازونه وه داسې لکه چې يو
کس لګيا دی او زما په سر کې فولادی ميخ ټکوي
همدومره مردار غږ او همدومره درد مې احساس کاوه،
د لرې څخه د شور ماشور غږونه هم راتلل داسې لکه
چې جنګ وی؟ مختلف او ګډوډ غږونه مې آوريدل،
راسته اوږه مې داسې درد کول چې فکر مې کاوه يو
څوک پکې ستنې ننباسې، نه يوازی راسته اوږه بلکې

ketabton.com - The Digital Library

احساس مې کاوه ساه هم سمه نشم اخیستې او د هر ساه اخیستلو سره د سینې هډوکې مې جلا کېږي، کوښښ مې وکړو خپل سترګي خلاصې کړم خو داسې درنې وه ته وا په شریش(چسپ) باندی چې یو پر بل موښل شوي وی؟!

د څو ځله کوښښ کولو وروسته بلاخره وتوانیدم لږ نیم کښ ډول باندی خپل سترګي خلاصې کړم خو ټول شیان راته پیکه،پیکه ښکاریدل د صحیح لیدو لپاره مجبور څو ځله نور مې هم سترګي خلاصي او بندی کړل او بلاخره د څو شیبو زحمت وروسته لږ مې دید واضح شو لومړۍ څو شیبو کې مغزو کې مې هېڅ خبره رانغلل؟ نه پوهیدم دا ځای چیرته دی؟ او زه دلته څه کوم؟ حتا د څو شیبو لپاره خپل نوم مې لا ذهن ته رانغلو ...

خپل څنګ ته د یو شي په خوځیدو په تلوار مې نظر د کوټې د سپین چت څخه چې یو خیرن ګروپ وربانډی

ketabton.com - The Digital Library

راځورېند وو واخیست او هغه خوځیدونکې شئ پسې
مې مې وکتل، یو کس چې څهره یې صحیح نه
ښکاریدل پر کوم کټ چې زه څملېدلې وم پر هغه یې
سر کیخودلې وو او داسې ښکاریده لکه چې ویده دی؟

په زیر او مشکوک نظر مې وروکتل دا نو څوک دی؟
غوښتل مې لاس وړاندی کړم او هغه کس وخوځوم او
وپوښتم ته څوک یې؟ او زه دلته څه کوم؟ خو د لاس
وړلو مخکې هغه کس د خوب حالت کې خپل مخ لږ
زما خواته راوګرځو د هغه په دی کار ناساپه لکه چې
یو چا زما د مغز د چالاند کیدو بټڼ وهلې وی، په یوه
شیبه کې د یو فلم پشان ټول څیزونه مې د سترګو
وړاندی تېر شول .. زه په مرمۍ لګیدلې وم ... الفا
غوښتل ما ووژني ... عزیزی ورته زارۍ کول .. ما په
الفا ریشخند ووهو او هغه غوښتل زما ژبه پرې کړې ...

او بیا ... هغه ... هغه پیری چې زما مخه نیولې وه
راغلو او زه یې له هغه ځایه وژغورلم د هغه قواره چې

ketabton.com - The Digital Library

زما پشان وه او د هغه خبره چې ويې ويل زه ستا "همزاد" يم ... همزاد څه دی؟ باید د شموئيل څخه دا پوښتنه وکړم ... او د هغه نوم ... نوم يې ولې دومره عجيب وو "زقوم" ټول شيان مې ياد کې وه حتا دا مې هم ياد کې وه چې د پوليسانو رينجر راغلو زه د سړک په غاړه وم ... د "زقوم" په تلو زما د بدن انرژی هم لمينځه لاړل او همل‌ته وغورځيدم ... د دی صحنو وروسته نور کوم واضح تصوير مې ذهن کې نه وو د هغه وروسته ټول شيان زياتر ګډوډ وه يو څه ګډوډ صحني د بوډا د خبرو مې ذهن ته راتلل چې زما د حال پوښتنه يې کول او لکه چې د يو چا سره يې جنګ هم کوو؟

نه پوهيدم بوډا څنګه؟ او کله؟ تر ما رارسيدلې وو خو دومره پوهېدم او ډاډمن وم چې هغه زه تر شفخاني رارسولې يم، هغه سپين چپنه ډاکټر مې ياد کې وو چې زما سر ته ولاړ وو او يو څه يې ويل .. که بوډا زه تر

ketabton.com - The Digital Library

شفخاني رارسولي یم  نو ... نو ..ذو ... ذوالفقار بیا
دلته څه کوی؟

بې اختیاره مې سترګي د هغه پر مخ ښخې شوي، د ته
نو چا خبر ورکړی؟ د دی فکر پر کولو چې بوډا یا
جنرال دی ورته ویلې وی چې زه دا څو وخته چیرته
وم او څه کار مې کاوه؟ د وېرې څخه مې د بدن
ویښتیان زیغ ودرېدل، نه امکان نلری جنرال یا بوډا
دومره بیعقلان نه دي چې د هغه ماموریت په اړه
ذوالفقار ته کوم څه ووایې، هغه ماموریت دویته بیحد
ارزښتمن وو هر چا ته د هغه په اړه څه نه وایې خو
عملیات به نور خلاص شوی وی؟ اصلاً عزیزی چیرته
دی؟ الفا څنګه شو؟ آیا ژوندی دی که مړ؟ اصلاً زما د
تلو وروسته هلته څه وشول؟

پولیسانو هغوی ونیول او کنه؟ دومره مې فکر خراب
وو چې یوازی غوښتل مې جنرال یا بوډا راګیر کړم او
خپل ټول ذهني پوښتني ورباندی ځواب کړم خو د

ketabton.com - The Digital Library

ذوالفقار سترې څهره چې د خوب حالت کې لا د قهر او غوسي څخه ډکه ښکاریدل د ماموریت هر ډول فکر زما له ذهن ویست، یعنې د رښتیا کیسي څخه خبر دی؟ د دی د پوهیدلو لپاره مجبور راویښ یې کړم خو ... بیحد څهره یې سترې ښکاریده یعنې څومره وخت کیږی چې دلته په داسی ډول ویده شوی؟

ضرور سترې وو چې داسي په ناستو ویده شوی؟ زړه مې ورپسي بیحد تنګ شوی وو څومره وخت کیدل چې د نړدی څخه مې نه و ولیدلې، هې زما بیچاره کاکا! هې ... دا لا ما غوښتل خپل ستونزی پخپل حل کړم؟ خو بیا هم د ذوالفقار پښه مې خپل د ژوند ستونزو ته خلاصه کړل، د زړه له تل مى یوازی همدا دعا کول چې ذوالفقار د اصل کیسي څخه نه وی خبر کنه باید آرمان وکړم چې ای کاش د الفا پر لاس وژل شوی واې ...

ketabton.com - The Digital Library

په همدی فکرونو کې وم او دوه سترګي مې د ذوالفقار څهرې ته نیولې وه چې ناساپه هغه خپل سترګي خلاصې کړل او زما نظر د هغه په دوه تک سرو سترګو کې چې د ډېر سوروالي څخه فکر مې کاوه وینه ورڅخه څڅېږی بند پاتي شو ...

زما د خلاص سترګو په لیدو هغه لکه چې د څو شیبو لپاره ګنګس شو؟ زما پشان .. خو ډېر ژر پر خود راغې په تلوار لځایه پاسید او زما خواته راټیټ شو .

ذوالفقار- ښه یې طاها؟ زما غږ آوری؟

شاید بې انصافې او یا هم بیعقلتوب وې خو د دومره وخت وروسته د یو داسې کس غږ اوریدل چې پوهیدم د رښتیا هم یوازی او یوازی زما لپاره اندیښمن شوی پر شونډو مې مسکا راوسته زما د مسکا په لیدو ذوالفقار په حیرت د شونډی لاندی کرار وویل: خدای خیر ... لکه چې لیونۍ شوی؟

ketabton.com - The Digital Library

د هغه په دی خبره مسکا مې لا پسې زیات شوه او په نیولې غږ مې وویل: مه وېرېږه ذوالفقار.... ښه یم ..

د دی خبری کولو وروسته تازه پوه شوم چې په خوله کې مې ماسک دی؟ او ذوالفقار لکه چې زما خبره هېڅ وا نه وریدل؟ ځکه په تلوار او اندیښمنې څهرې له کوټې ووت خو ډېر ژر د یو ځوان هلک سره چې سپینه چپنه یې اغوستي وه او ډاکټر ښکاریدو کوټې ته راننوت.

ډاکټر داسې حال کې چې ګروپ یې تقریبا زما په سترګو کې راننباسلو ویې ویل: څومره وخت کیږی په هوښ راغلې؟
د ذوالفقار اندیښمن غږ مې د هغه شاته واورید چې ویې ویل: ولاکه ... نه پوهیږم .. د ډیر سترېیا څخه د یو شیبې لپاره مې سترګي پټي شول خو همدا چې خلاصې مې کړل نو ده راکتل ...

@Shuhab09

ketabton.com - The Digital Library

نه پوهېدم د ډاکټر ستونزه زما د ستركو سره څه وه؟ چې خپل ګروپ يې زما سترګو کې رانښويست؟ ډاکټر- زما غږ اورې؟ پوهيږې چيرته يې؟

داسې حال کې چې کوښښ مې کاوه غږ مې د ماسک تر شا واوريدل شي کرار مې وويل: که دا ګروپ دې زما د سترګو څخه لرې کړې، نو هو ... هم ستا غږ اورم او هم پوهيږم چې چيرته يم.

زما د خبرې په اوريدو ډاکټر لکه چې تازه پر خود راغې په شرميدونکي خندا يې ګروپ زما د سترګو څخه لرې کړو او ويې ويل: وبخښه، هغه د ډېر وخت وروسته په هوښ راغلې نو مجبور شوم د هوښيارتيا اندازه دې چک کړم ..

د هغه په خبره لږ ګنګس شوم؟ څه مطلب د ډېر وخت وروسته په هوښ راغلې؟ مګر زه څومره بې هوښ وم؟ غوښتل مې ماسک د خولې څخه لرې کړم فکر مې کاوه همداسې هم ساه اخيستلې شم او اکسيجن ته

ketabton.com - The Digital Library

ضرورت نشته؟ ډاکټر هم لکه چې همدی خبری ته پام شو ځکه په تلوار زما څخه مخکې هغه منحوس ماسک یې زما له خولې او پوزی لری کړو، د هغه د لری کیدو وروسته غوښتل مې یوه غټه ساه واخلم، فکر مې کاوه سږي مې د یو غټ ساه په آرمان دی؟

خو لا خوله مې نه وه خلاصه کړې چې یو وحشتناک درد مې خپل په سینه کې احساس کړو داسی چې ساه یې هملته سینه کې راته بنده کړل، مخ مې د درد څخه تک شین شو چې ډاکټر په ورخطایي وویل: په کراره ساه واخله ستا د سیني دوه هډوکې مات شوی ناساپه فعالیت یا ساه اخیستل درته ښه نه دی، باید ډېر احتیاط وکړې په کراره، کراره ساه واخله زما سره حساب وکړه د یو، دوه،درې په ویلو کرار ساه واخله او خوشې کړه هله افرین ..

ډاکتر په کراره یو،دوه،درې ویل شروع کړل او زه یې وهخولم تر څو د هغه د هر عدد ویلو سره یو کوچني

ketabton.com - The Digital Library

ساه واخلم، ما هم د هغه خبره ومنل او بلاخره د څو شیبو وروسته ساه اخیستل مې لږ نرمال شول، کله چې نفس مې راپورته شو نو تازه مې خپل ځانته فکر شو بغیر د کمیس څخه لوڅ،لېږ په کټ څملیدلې وم، پر سینه، راسته اوږه او حتا پر لاس مې لا سپینه پټۍ تړل شوی وه ...

زه دومره کله زخمی شوم؟ یاد مې وه چې مرمۍ مې په راسته اوږه وخوړل خو دا نور زخمونه البته بغیر د سیني د زخم څخه چې پوهیدم د هغه دوه،دري زدنې لغتو له لاسه دی کوم چې د الفا کس راکړل دا نور زخمونه نه پوهېدم چې څنګه مې خوړلي؟ د ذوالفقار په غږ په ښود راغلم.

ذوالفقار- حالت یې څنګه دی؟
ډاکټر داسې حال کې چې زما سیروم بند کاوه پخندا وویل: خپل خو ګوری رک روغ دی ماشاءالله،زخمونه

ketabton.com - The Digital Library

يې يو څه وخت نيسې تر څو جوړ شې خو نور کوم
خاص ستونزه نلرى.

عجيب وه ما تراوسه دومره مهربان ډاکټر چيرته نه وو
ليدلې؟! هره خبره يې پخندا او ورين تندى کول؟ البته
د هغه ښځه لا ډېر عجيب دا وه چې ذوالفقار ما ته
غوسه نه ښکاره کيدو؟ يعنې څهره کې انديښنه،
تشويش، زړه تنګون او حتا غم لا ما محسوس کولاى
شو خو غوسه نه؟ او دى خبرى زه لږ ډاډمن کولم چې د
موضوع ښځه ناخبره دى ...

که د اصل موضوع ښځه خبر وايې نو خداى خبر که
دومره نرم چلند يې زما سره کړى وايې، که د اصل
موضوع ښځه نه دى خبر نو مطلب بوډا او جنرال دوى
ورته يو بل بهانه جوړ کړى؟ خو څه؟ غوښتل مې د
ډاکټر ښځه وپوښتم چې زه دلته څنګه راغلم؟ يا چا
راوستلم؟ خو بيا مې د ځان سره وويل چې هسې نه

ketabton.com - The Digital Library

بوډا دوی ورته یو خبره کړې وی او زه دلته ځان په ناګمان اچولو موضوع خراب کړم؟

خو چاره هم نه وه باید په یو ډول پوه شوی وایې چې څه کیسه ده؟ الفا او عزیزی خنګه شول؟ په همدی کش مکش کې وم چې د کوټې دروازه خلاصه شوه او زبیر په تلوار راننوت زما د خلاص سترګو په لیدو په خوشحالۍ تقریبا په چغه وویل:

زبیر- اوه خدایه زموږ قهرمان ملې بلاخره خپل سترګي خلاصې کړل ...

د هغه په دی خبره سترګي مې د حیرت خلاصه پاتې شوی او په تلوار مې د ذوالفقار خواته وکتل، یعنې دوي خبر دی چې ما څه کار کړی؟

زبیر په غټ قدمونو ځان زما تر کټ راورسو او داسې حال کې چې خوله یې له خندا نه ټولیدل ویې ویل:
ولای زه د اول هم خبر وم چې ته ډېر پهلوان او دلاور

ketabton.com - The Digital Library

انسان یې خو ګمان مې نه کوو چې تر دی حد دی اوسیږی چې یو انتحاری کس په غیږ کې راونیسې؟! البته ملامت نه یې فکر کوم د عربستان هوا داسې لیوني کړی یې ..

د زبیر په دی خبره دا ځل رسماً سترګي مې له کاسي راووتل دا څه اپلاتي لګیا دی؟ نه پوهېدم د هغه مطلب د دی خبرو څخه څه دی؟ انتحاری چیرته وو؟ پهلوانې او شجاعت چیرته وو؟ د عربستان هوا چیرته وه؟ یعنې امکان لری بوډا ورته ویلې وی چې ما د پکتیا یو لوی مافیا ډله د هغوی په ګیر ورکړل؟ که په دی خبره پوهیږی نو بیا ولې دومره خوشحاله دی؟ زبیر خو بیا هم کارونه یې د هضم کولو دی خو ذوالفقار ... په ګنګس انداز مې د هغه خواته وکتل یعنې هغه خبر دی او څه نه وایي؟

یعنی هغه ته مهمه نه ده چې ما ورته دروغ ویلې او د عربستان او د کار په بهانه د پولیسانو سره یوځای د یو

ketabton.com - The Digital Library

خطرناک مافیا ډلې پسی تللې وم؟ اصلاً د ذوالفقار داسې کرار او آرام اوسیدل مې نشو هضم کولای اخر څنګه امکان لری؟ د ډېر فکر کولو څخه نږدی وو مغزه مې وچوی چې ډاکټر یو نامحسوس سترګکه داسې چې زبیر او ذوالفقار دوي فکر نشو راته ووهل او کرار یې د شونډي لاندی وویل: دومره فکرونه مکوه،صبر دوي رخصت کړم په کیسې دی سر خلاصوم.

د هغه په دی خبره لومړی مې حیرت وکړو خو ډېر ژر پوه شوم چې څه چل دی؟ دا د بوډا کس وو، په دی فکر یو راحت ساه مې واخیسته لکه چې بلاخره یو کس پیدا شو ما د دی ګنګس حالت څخه راوباسي؟

ډاکټر- مهربانې وکړی مریض یوازې پرېږدی د دومره بې هوښې وروسته ښه نه دی چی دومره ورباندی شور ماشور جوړ کړی، یو څو ساعت نور هم باید د نظر لاندی وی.

ketabton.com - The Digital Library

د ډاکټر په خبره ما هم خپل ځان لږ مریض ونیو ترڅو ذوالفقار او زبیر لاړشي،که څه هم زړه مې د دواړو پسي بیحد تنګ وو او غوښتل مې چې ډېر مجلس او خبرې ورسره وکړم خو لومړی باید خپل ټول ذهني پوښتني حل کړم د هغه وروسته بیا د زړه تنګون غم وخورم.

ذوالفقار- یعنې یو نفر هم ورسره پاتې نشو؟
ډاکټر- هو،هېڅوک ورسره مه پاتې کیږی ټول لاړشي،مریض باید یوازی ارام وکړی.
ذوالفقار زبیر خوا ته اشاره وکړل او ویې ویل: دا به لاړ شي خو زه به د څو ساعتو مخکی پشان دلته کرار کښینم خبری نکوم.
ډاکټر- نه ... کله چې وایم ټول لاړ شي، نو مطلب ټول لاړ شي او هېڅوک مه پاتې کیږی مریض باید یوازی وی.

ذوالفقار زما خواته اشاره وکړل او په تروش تندی وویل: که کوم شئ ته ضرورت ولرې نو څنګه ووایې؟

ketabton.com - The Digital Library

فکر نکوم په دی حالت دی خبری لا سم وکړی شي
چغي وهل خو لری، نو غوره به نه وي چې زه يې ځنګ
ته پاتي شم؟

د ذوالفقار په دی دومره ټينګار د ډاکتر حوصله تنګ
شوه او تقریباً په تنده لهجه یې وویل: محترم وروره!
موږ دلته ډاکتران،نرسان او مجهز پرسونل لرو تر څو
خپل د ناروغ ساتنه وکړو نو ضرورت نشته تاسو دومره
اندیښمن اوسيږی،زه پخپل هر نیم ساعت وروسته د
ناورغ ليدلو ته راځم، نو مهرباني مريض يوازی پريږدی.

د ډاکټر په تنده لهجه د ذوالفقار د تندی ګونځې لاپسي
زيات شول، څه دروغ ووايم که څه هم زړه مې غوښت
ژر تر ژره پوه شم چې څه چل روان دی؟ خو بیا هم د
ډاکټر تنده لهجه مې د ذوالفقار سره هيڅ خوښه
نشول،نو ځکه زبير ته چی کرار زما سر ته ولاړ وو اوپه
یو ريشخندی خندا يې زما خواته راکتل مخ وګرځو او
کرار مې وویل: څه ته داسی د ليونيانو پشان خاندی؟

ketabton.com - The Digital Library

زه کور ته لاړشه ذوالفقار هم د ځان سره ویسه(بیا می خپل غږ لږ راټیټ کړو او ومې ویل: نګوری ځنګه غوسه دی؟ غواړی جنګ جوړ کړی؟

زبیر بغیر له دی چی زما یو خبری ته لا توجه وکړی په حیرت یې زما خوا ته راوکتل او ویې ویل: وزن دی اخیستی طاها؟! خو کوم عادی او نرمال وزن نه دی؟ باډی دی کړی ... ورزش دی کاوه؟

د هغه په دی خبره زړه مې غوښت خپل سر د کټ ووهم زه ورته څه لګیا وم او دی په کوم فکرونو کې وو؟ بغیر د څه ویلو مې ورته کتل چې شاید لږ عقل یې سر ته راشې خو هغه په راوتلو سترګو زما د بدن خوا ته راکتل او سر یې د لیونیانو پشان خوځاوه.

زبیر- باور می نه کیږی سکس پک دی کړی طاها؟ ته مګر عربستان ته د کار لپاره نه وی تللې؟ نو د کار کولو وخت کی خلک ډنګر کیږی، خوار کیږی .. نو ته ولې داسې شوی یې؟ سم د بدنسازانو پشان دی باډی کړی؟!

ketabton.com - The Digital Library

د ډېر غوسي څخه خندا راغلی وه،یالله زه څنګه د دی لیونی ملګری شوی یم؟ زه پر مرګ پروت یم، مرمۍ مې خوړلی، تیکه،تیکه او لاش،لاش یم او دی لګیا دی زما د خیټې د سکس پک په اړه خبری کوی؟ غوښتل مې خوله خلاصه کړم او ښه یې بیاب کړم خو د څه ویلو مخکی مې یو عجیب درد په سر کی وپیچل شو داسې درد چی بې اختیاره می "اخ" له خولی وو زما د درمند غږ په اوریدو ټولو زما خواته فکر شو ذوالفقار په تلوار ځان زما تر کټ راورسو ..

ذوالفقار- څه وشو طاها؟ کوم ځای دی درد کوی؟
په همغه پټ سترګو مې په درد باندی وویل: سر مې ... سر مې درد کوی .. فکر کوم یو څوک پکي میخونه ټکوي ..

زما په دی خبره دا ځل د ډاکټر قهرجن غږ پورته شو: خود نو به درد کوی، ته تازه تقریبا د 44 ساعت بې هوښي وروسته په هوښ راغلې یې نو معلومداره ده

ketabton.com - The Digital Library

چې د دومره چغ،ماچغ د اوریدو توان نلرې(بیا یې د ذوالفقار خوا ته مخ کړو او ویې ویل: دا ناروغ زما مسئولیت دی، که زما په خبره له کوټې څخه ونوځي او ناروغ یوازې پرینږدی نو مجبور کیږم د زور څخه کار واخلم او له کوټې مو وباسم، او اصلاً هم راته مهم نه ده چې تاسو د ناروغ خپلوان یاست ... نو یا پخپل لاړشې یا هم زه غږ کوم د شفخاني ساتونکو ته ترڅو په زور مو وباسي ...

د ډاکتر په دی ګواښ بې اختیاره مې سترګي خلاصې شول، هره شیبه په تمه وم چې ذوالفقار او ډاکټر لاس په ګریوان شې،خو لکه چې بلاخره د زبیر مغزو کار وکړو چې ذوالفقار یې له اوږی ونیو او غوښتل یې له کوټې ووځې، ذوالفقار داسې حال کې چې د غوسي څخه یې مخ تک سور شوی وو د کوټې څخه د وتلو مخکې خپل اوږه د زبیر د لاس جلا کړل او ما ته یې وویل: زه د کوټي بیرون یم کوم شئ دی غوښت غږ وکړه.

ketabton.com - The Digital Library

د سترګو په خلاص او بند کولو د "سمده" ځواب مې ورکړو چی بلاخره ذوالفقار او زبیر له کوټې ووتل د هغوی د تلو څو شیبې وروسته ډاکتر زما خواته مخ راوګرځو او په ناراضه لهجه یی وویل: باور پخدای دومره چی ستا ورور زما عصاب په دی دوه ورځو کې راخراب کړل په دی اته کال ډاکټری کې چا نه وه راخراب کړې ..

د ډاکټر په دی خبره مې نرۍ مسکا پر شونډو راغله حق مې ورکو چی غوسه اوسیږی، ما ذوالفقار پیژنده او پوهیدم چی څومره په داسې وختونو کې تند مزاج کیږی، بلخصوص که هغه موضوع کې زما نوم او نښان اوسیږی بیا نو سم ورځخه د آتشفشان غر جوړیږی هغومره نه کنټرول کیدونکې او غوسه ناک داسې حال کی چی خپل سر باندی می لاس واهه کرار می وویل: ورور مې نه دی.
ډاکټر- ورور دی نه دی؟ مه وایه چې پلا ...

ketabton.com - The Digital Library

خبره مې ژر ور پرې کړل او ومې ویل: نه .. کاکا مې دی، دومره نو هم بوډا نه دی چې زما پلار اوسیږي.

ډاکټر- کاکا د دی؟

- هو.

ډاکټر- عجب! باور مې نه کیږي یعنې داسې کاکاګان هم شته؟

- څنګه؟

ډاکټر په کرار ګامونو زما خواته راغلو او داسې حال کې چې ځان یې زما د راسته اوږی د ټپ په کتلو بوخت کاوه په پوسخند یې وویل: زه هم کاکاګان لرم ماشاءالله درې،څلور دانې هم لرم خو ټولو زما څخه داسې بد راځی ته وا ما یی میراث خوړلی؟ زما د نوم او قواری څخه یی لا بد راځې، که وار په لاس ورشي په مرګ مې صرفه نکوی ... نو ځکه حیرت می وکړو کله چې دی وویل کاکا مې دی! ستا کاکا بیحد مهربان

ketabton.com - The Digital Library

دی ... البته باید ووایم چې یوازی ستا لپاره مهربان دی ..!؟ مورې تخو یې دا دوه ورځې ژوند پرینخود ..

- دوه ورځې؟ یعنی زه دومره ډېر بې هوښ وم؟ زما لیدو ته بغیر زما د کاکا څخه بل کوم څوک رانغلو؟

ډاکټر- اوممم که مطلب دی جنرال صاحب یا امر صاحب ته وی؟ نو هو ستا لیدو ته هغوي دواړه راغلل خو مخامخ لیدنه نه وه! مطلب زیاتر زما سره یې لیدله او ستا د حال پوښتنه یې کول البته نن نه دی راغلې پرون ماښام تر ناوخت همدلته وه خو ځکه چې کاکا دی کوټه کې وو نو تاسره یې مخامخ ملاقات ونشو کړی.

- هغوی څه ویل؟

ډاکټر- چا؟

- جنرال صیب، څه یې ویل؟ زه څنګه تر دی ځای راغلم او هغه (نه پوهیدم چې د عزیزی یا د الفا خبره ده ته کول مناسب دی او کنه؟ د ډاکټر خبری بیحد بل ډول

ketabton.com - The Digital Library

وه .. فکر مې کاوه شاید د اصل ماموریت کیسې څخه خبر ونه اوسیږی؟ نو ځکه ومې ویل: جنرال کوم څه زما لپاره و نه ویل؟ مطلب کله چی په هوښ راشم تا ته یی ونه ویل چی ما ته باید کوم څه ووایی؟

زما په دی خبره ډاکتر په کراره وخندل او ویې ویل:
هو .. هو ویې ویل کله چې په هوښ راشې نو درته ووایم چې ستا لپاره یې یو ډیر ښه مجلس جوړ کړی او بیغم اوسیږه ستا دا شجاعت به زموږ هیر نشی ..

د ډاکټر په خبرو غوسه راغلل نه پوهیدم اخر ولې داسې نیم، نیم خبری کوی؟
- بس همدا یې وویل؟ کولای شې لږ واضح ووایه څه شوی؟ یعنې زه چا دلته راوړم؟ او جنرال تاته دقیقاً څه وویل؟ همغه خبره وکړه.

زما په غوسه ناک لهجه ډاکټر ګنګس شو او کرار یې وویل: ولې تا خپل په یاد نه دی؟
- په یاد مې دی خو غوارم چې ته یې راته ووایې ..

ketabton.com - The Digital Library

زما په دی خبره ډاکټر لومړی په حیرت راوکتل خو ډیر ژر حیرت یې په یو ساده خندا بدل شو او ویې ویل: ښه نو غوږ شه کیسه داسې وه ... ته یې دلته په ټپي حالت کې داسې چې بیحد وینه دی د لاس ورکړی وه جنرال نقیب(د بوډا اصلې نوم جنرال نقیب دی) پخپل شخصاً راوړی! البته ما خو ونه لید خو ډاکترانو ویل چې بیحد هم ستا لپاره ورخطا وو، ستا تر عملیات کیدلو هغه پاتې شو خو د عملیات وروسته کله چې ډاډمن شو ستا حالت ښه دی نو ستا کورنۍ ته یې خبر ورکړو او پخپل لاړ...

البته د تلو مخکې د شفخانې مشر ښاغلې انوری ته یې ستا سپارښتنه کړې وه او ویلې وه چې تا یو انتحاری بریدګر کوم چې غوښتل یې ځان د هوایې ډګر مخکې فدایی کړی رانیولې او د هغه له لاسه دی مرمۍ خوړلې او خوږ شوی یې نو ځکه ټول د شفخانې کسان باید پر تا بیحد پام وساتې ځکه تا یو بیحد شجاعانه کار کړی .. جنرال صیب ویل کله چې په هوښ راشې نو ستا د

ketabton.com - The Digital Library

دی کار د تقدیر لپاره به یو غونډه ونیسې او شاید زما په نظر څه ناڅه جایزه هم د دی شجاعانه کار لپاره درکړی ...؟

په خلاصه خوله می ورته کتل دا څه لګیا دی؟ ما ورته په حیرت کتل او هغه لکه چی زما د دی کتلو څخه کوم بل مطلب واخیست چي پخندا یی وویل: باور وکړه ستا کار ډیر جرئت غواړی اصلاً ته څنګه پوه شوی چی هغه کس انتحاری دی؟ او څنګه دی جرئت وکړو خالي لاس وربراندی برید وکړی؟ یعنې ونه ډار شوی چې د وهلو جریان کې هغه ځان والوځوی؟ یعنی باور وکړه که ستا لځایه زه وایې نو د جنګ لځایه تښتیدلم ...

ډاکټر خپل د دی خبری وروسته د لیونیانو پشان پخندا شو خو ما یواځې ورته وکتل، باور مې نه کیدو بوډا او جنرال دوي زما د ټپي کیدلو پیښه څومره جالبه صحنه سازی کړی وه؟ مطلب داسی کار یی کړی وو چې د زبیر خبره زه یې پکې قهرمان ملی معرفی کړی وم!؟

ketabton.com - The Digital Library

خو ولې داسې کړی وو؟ خپل ځواب مې پخپل ورکړو
تا یو خطرناک ترینه ډله او مافیا د هغوی په ګیر ورکړو
خود به نو ستا څخه یو اتل جوړوی .. یعنې هغوی الفا
او عزیزی نیولی؟ هو نو که داسې یو صحنه سازی کړی
مطلب کار ختم دی او دوی په موافقت باندی ماموریت
پای ته رسولې ...

چی اوس داسې غواړی زما تقدیر هم وکړی؟ په دی
فکر نری مسکا می پر شونډو راغله، یعنی نور نه الفا
شته او نه هم د هغه مردار ګروپ او باند؟ یعنې هر څه
نور ختم شول؟ زه نور آزاد یم چی کور ته لاړشم، په
بیغم خیال، بغیر د کوم وېرې او ډار څخه؟ نور مې
ډاګتر ته کوم څه ونه ویل پوهیدم چې په کوم ډیر څه
خبر نه دی او زیاتر د یو محافظ ډاکتر کار کوی نه کوم
جنايي پولیس، سترګي مې وترل، زما په سترګو پټولو
هغه لکه چی پوه شو چې نور د خبرو حوصله نلرم
ځکه د دوه درې دقیقو اخوا دیخوا کیدلو وروسته له
کوټې ووت ..

ketabton.com - The Digital Library

د هغه په تلو سترګي مې بیرته خلاصی کړل او د لیونیانو پشان مې کرار ځان سره وخندل، یعني ماموریت خلاص شو؟ زه اوس خپل کور ته تللې شم هغه هم د هغه څه کم او زیات اتیا لک افغانیو سره؟ البته یو تقدیر نامه هم شاید راکړی او یو د دلاوری ایواړ هم؟ وااا .. په دی خبرو مې لکه لیونیانو پشان بیا د ځان سره وخندل چی دا ځل د اوږی درد می لږ ډېر شو خو دومره خوشحاله وم چی دا دردونه هېڅ نه راته ښکاریدل فکر می کاوه خوب وینم ..

اخر دومره خوشحالې او زه؟ امکان نلری؟ خو دا ځل لکه چې امکان لری؟ ډېر می زړه غوښته د عزیزی او د الفا حال معلوم کړم خو پوهیدم چی د اوس لپاره کوم کار نشم کولای باید په تمه پاتي شم شاید بوډا یا د هغه کوم بل کس راشې او خبر راکړی؟ په همدی خوشحاله فکرونو کې کرار،کرار مې سترګی ګرم شول او ویده شوم ...

ketabton.com - The Digital Library

سهار چې له خوب راپاسیدم نو فکر مې کوو لا هم ویده یم او خوب وینم؟ ځکه کوتِه مې د زر رقم دولتي عسکرو څخه ډکه وه هغه هم د داسې کسانو څخه چې ما پکې یو هم نه پیژندو؟! که ووایم د هغوی په لیدو لږ وډار شوم نو دروغ به نه یې خو د ذوالفقار او زبیر په لیدو چې زما د کټ څنګ ته ولاړ وه وېره مې لږ کم شول،په ګنکس انداز مې د هغوی خواته وکتل نه پوهیدم دا دومره ډیر کسان د څه لپاره دلته راغلی؟ زما د خلاص سترګو په لیدو یو،یو کس رامخکې کیدو او سم د پیرصیب سره چې ستړی مشي کوی همغسې په احترام یې ما ته لاس راکو او زما د حال پوښتنه یې کول کله به چې ومې ویل ښه یم نو بیا به یې زما تعریفونه کول؟

د هغوی دی کار ته لږ حیران وم، ځکه ما هغوي نه پیژندل زیاتره یې ناشنا کسان وه .. خو د یو اشنا کس په لیدو د خبری تر اخری مطلب ورسیدم او پوه شوم چې دا دومره کسان د څه لپاره زما لیدو ته راغلې ...!؟

ketabton.com - The Digital Library

بوډا په رسمي دريشي کې کوټې ته راننوت، باور مې نه راتلو ټولو ورته سلامي ووهل؟ يعنی دا بوډا دومره رتبه درلود او زه نه وم خبر؟ د اغوستلې دريشي دواړه د اوږو سرونه يې په طلايي رنګ ستورو پوښل شوی وه يوځای مې اوريدلې وه چې د نظامی کسانو درجه د هغوی د اوږي په ستورو معلوميږی؟

مطلب څومره چی ستوری ډېر وی هغومره د هغه کس رتبه پورته ده؟! د بوډا د دواړو اوږو په سرونو تقريبا درې،درې ستوری وه! مطلب تورن جنرال دی؟ يا که افسر جنرال؟ ولاکه ما د نظامي برخو په رتبه بندی دومره سر نه خلاصيدو خو دومره پوه شوم چی درجه يې په کوټه کې د موجود ټول کسانو څخه لوړه ده، زما خواته راغلو د هغه په راتلو غوښتل مې ځای کې کښينم خو هغه اجازه رانکړل خپل لاس يې زما په اوږه کيخود او زه يې ځمليدلو ته مجبور کړم.

بوډا- څنګه يی څوانه؟

ketabton.com - The Digital Library

د هغه د داسی رسمی لهجې په اوریدو لږ بل ډول احساس می وکړو ما څو میاشتې د هغه سره په یو کور کې وخت تېر کړی وو خو اوس راته ناشنا ښکاریدو، کوښښ مې وکړو ځان راټول کړم کرار مې وویل: د خدای فضل دی تاسو ښه یاست؟

زما په خبره د بوډا سترګې د خوشحالی وپړقیدل او ویې ویل: تر کوم وخت چی ستاسو پشان میړني او باتور ځوانان زموږ هیواد کی وی، موږ به تل ښه او خوشحاله اوسیږو زویه، خدای دی ستاسو پشان ځوانان زموږ له سر نه کموي ..

د بوډا د دی خبری ځواب په کوټه کې موجود ټول کسانو د امین په ویلو ورکړو بلخصوص زبیر؟! د زبیر خوله د خندا څخه داسې خلاصه وه ته وا د هغه څخه یې تعریف کړی نه زما؟ د هغه دی حالت ته مې خندا راتلل له بلخوا ذوالفقار وو چی تندی درې من تروش نیولی وو او ټولو ته یی بد،بد او په مشکوک نظر

ketabton.com - The Digital Library

کتل،ډیر مې زړه غوښت د بوډا سره یوازې ځان خبرې وکړم او د عزیزی او الفا په اړه ورڅخه معلومات واخلم، که رښتیا ووایم زړه مې په عزیزی سوځیدو ...

غوښتل مې پوه شم چې مړ دی او که ژوندی؟ خو افسوس چې په دی حالت کې داسې خبرې نه کیدل،بوډا د لاس په اشاره کوټه کې موجود یو کس ته یو څه وویل چې هغه په ځغاستو له کوټې ووت خو ډیر ژر د یو ځوان هلک سره چې کمره یې په لاس کی وه او یو کارټ چې ورباندی لیکل شوی وو "د رڼا رادیو تلوزیزون خبریال" کوټې ته راننوت بوډا یو چار کونجه کاغذ چې په سر یې په غټ ټکو تقدیر نامه، لاندی زما نوم او د هغه څخه اخیر کې د دوه درې وزارتونو ټاپې وه زما لاس ته راکړو

البته د ملې اردو یو دریشې هم راکړل چې وربانډی یو غټ ستوری لګول شوی وو، د هغه شیانو د راکولو وروسته یې خبریال ته وویل چې زموږ عکس واخلی؟!

ketabton.com - The Digital Library

یعنی زه په کټ باندی لوخ لپړ څملیدلې وم او هغوی زما د کټ څنګ ته ودریدل او عکسونه یې واخیستل د درې،څلور اخیستلو وروسته بوډا یو ځل بیا را ښکته شو زه یې غیږ کې ونیولم او زما د غوږ څنګ ته یې کرار وویل: پوهیږم چی د دی حالت په لیدو ګنګس یې خو دومره پوه شه چی هرڅه همغسې پای ته ورسیدل څنګه چی زموږ توقع او پلان وو، جنرال صیب غوښتل لیدلو ته دی راشې خو ستا د کاکا په لیدو د راتلو څخه منصرف شو ویل یې یوه ورځ چی طبعیت دی ښه شو د حوزی خواته یو چکر راشه درته په تمه دی.

د دی خبری د کولو وروسته زما څخه جلا شو او د زړه له خلاصه یې زما تندی ښکل کړو؟! کله چی وایم د زړه د خلاصه نو باور وکړی همغسې په کلک او شوق یې زما تندی ښکل کړو، د هغه وروسته یو ځل بیا همغه بڼګر هلک ته یې اشاره وکړل چی هغه ژر یو سپین پاکټ د هغه لاس ته ورکړو بوډا پاکت زما پر پښو کیخود او په لوړ غږ یی وویل: که څه هم ستا کار پر

ketabton.com - The Digital Library

پیسو او مالي شیانو نه جبران کیږي خو دا زموږ لخوا دمنني د ډالی په توګه وګڼه ستا کار د سلګونه بیګناه کسان ژوند وژغورل موږ د هغوی د هر یو د ویني پوره وړی یو تا ته.

بوډا یو لس دقیقي کوټه کې زما څنګ ته پاتي شو او زما د میړانې او د کار د ښه والی په اړه یی خبری وکړل د هغه وروسته لاړ، د هغه د تلو سره سم کوټه کې موجود ټول کسان یو پر بل پسی روان شول، د هغوی د وتلو سره سم زبیر زما د کټ خواته تقریبا باید ووایم حمله راوچول او لومړی شئ چې کش کړو هغه سپین کاغذ پیچ پاکټ وو کوم چی بوډا اخر کی زما په کمپل کیخودلې وو؟!

زبیر بغیر له دې چې زما یا د ذوالفقار حیران نظر ته کوم توجه وکړې په تلوار یې پاکټ خلاص کړو د پاکټ دننه ډالر وه؟!

ketabton.com - The Digital Library

زبیر- سل، دوه سوه، درې سوه،څلور سوه .... اوممم دا يې هم ... اه باور مې نه کیږی دومره ډیالګونه يې وویشتل خو اخر کې یوازی دونیم زر ډالر درکړل؟

د زبیر په خبره په حیرت می وروکتل دونیم زر ډالر؟ یعنی تقریبا کم او زیات دوه لکه افغانۍ؟ عجب د رښتیا چې هم د دولت جیب سم د خلیفه کځورې ده،د پیسو کمي پکې نشته، ما د زبیر حرص او جوش خوړلو ته پخندا کتل هغه څه خبر وو چی ما د دی څخه مخکې لکونه افغانۍ په جیب وهلی؟ او دا دوه لکه زیاتر د یو ډالۍ حیثت لری نه کوم تقدیر او تمجید؟ زبیر لا لګیا وو پیسي اخوا دیخوا کول چی ذوالفقار په غوسه وویل: بس کوی که درشم هغه پیسي دی په خوله درننباسم؟

د ذوالفقار په داسې ناساپه او ګوابن کوونکی لهجه زبیر څه چې زما له نفس سینه کې بند شو، په حیرت می وروکتل دا ولې ناساپه دومره غوسه شو؟

@Shuhab09

ketabton.com - The Digital Library

زبیر- په تا څه وشول؟

ذوالفقار په غوسه او پوسخند وویل: څه وشول؟ یعنې ته هېڅ نه یې خبر چی څه شوی (ذوالفقار زما خواته اشاره وکړل او په همغه غوسه یې وویل: دا خر تللې په یو انتحاری کس یې ځان اچولې،مرمۍ خوړلی او نږدی وو چی مړ شې .... هغه وخت ته ... ته خوشحاله یې او پیسی شماری؟ یعنی یو ځل هم دی خبری ته فکر نکوی چی هغه مرمۍ که د اوږی لخایه د ... ده ...په ....پ(ذوالفقار په غوسه زما خواته راوکتل ... داسې غوسه چې د یوه شیبی لپاره و ډار شوم چی هسې نه ومې وهی؟

ذوالفقار- یعنی یو ځل دی هم دی خبری ته فکر ونکړو که خدای مکړه هغه مرمۍ ستا د اوږی لځایه ستا په زړه لګیدلې وایی، یا هغه انتحاری کس ځان الوځولې وایی نو څه به شوی وايي؟ یعنی تاته دا خپل ژوند دومره کم ارزښت ښکاری طاها؟

ketabton.com - The Digital Library

هېڅ مې ونه ویل پوهیدم چې نن وی که سبا دا خبرې به ضرور اورم، البته د شکر ځای درلود چې د اصل کیسي څخه نه وو خبر،که خبر شوی وایی ما د پیسو لپاره تقریبا ځان د یو سل فیصده مرګ خولې ته اچولی وو شاید خپل پر لاسونو یې وژلې وایی؟

زبیر- داسې مه وایه ذوالفقار، اوس خو د خدای شکر ښه دی نو ولی هسې په منفي خبرو خپل فکر خراب کوی؟

د زبیر په خبره لکه چې ذوالفقار سم اور واخیست چې مخ یې د غوسي څخه تک سور شو او تقریبا په چغه یې وویل: منفی فکرونه؟ یعنی تا لیاده ووتل چې ده څه کارونه کړی ها؟

بیا یې زما خواته مخ راوګرځو او یو دوه ګام رانږدی شو د هغه په نږدی راتلو بې اختیاره خپل ځای کی د آماده باش حالت کی کښیناستم ذوالفقار په سور نه وو

ketabton.com - The Digital Library

برابر وېرېدلم هسې نه همدی حالت کې مې راونیسي او ومي وهي؟!

ذوالفقار- ځان څخه دی قهرمان ملی جوړ کړی؟ په انتحاری کسانو ځان اچوی؟ له کور تښتي؟ عربستان ته ځې؟ د ټولو خپل او خپلوانو سره قطع رابطه کوی؟ خپل ښځه او ماشوم د خسر په کور خوشې کوی او خارج ته د لنډغری پسې ځی؟ ښه نو طاها ته اوس دومره شې شوی چې دا ټول کارونه کوی او حتا زما څخه د یو نظر پوښتنه لا نکوی؟

یو کال ... پوره یو کال کور په کور او کوڅه په کوڅه درپسې وګرځیدم خو ستا هېڅ خبر مې پیدا نکړو .. خو کله چې دی خبر راغلو نو (زما زخمي بدن ته یی اشاره وکړل: نو په دی سر او شکلک مرمۍ خوړلی، د شفخاني په بستر پروت مې پیدا کړی او زه لا منفي فکرونه کوم؟

ketabton.com - The Digital Library

د ذوالفقار ټول خبری حق وه ..یعنی انکار نشم کولای ما د هغه حق کې زیاتي کړی وو خو اوس کار تر کار تېر وو، زبیر چی ماحول خطرناک ولید نو کرار د ذوالفقار خواته راغلو داسی حال کې چی د هغه اوږه یې نیول زما خواته یی راوکتل او ویې ویل: خر دی ... پخدای چی دا طاها یو بی لکۍ خر دی ... په دی خبره کې شک مکوه باور وکړه زما زړه ستا څخه ډیر ورته ډک دی شیطان وایی راوې نیسه او ښه جوړ یې وډبوه

د زبیر په دی خبره په حیرت می وروکتل دا اوس راغلی د ذوالفقار غوسه سړه کړی؟ یا که غوسي ته یې ښه تیل واچوی؟

زبیر- خو اوس یې وخت نه دی ذوالفقار، ته یې دا خیرن مخ ته وګوره .. ستا په نظر ستا د یو څپیړی طاقت لری؟ خپل خو شاهید وی او و دی لیدل چې بوشکه،بوشکه وینه یې ورته تېر کړل، نو زما خبره ومنه او د اوس لپاره لعنت پر شیطان ووایه او خوشې

ketabton.com - The Digital Library

کړه، خو قسم پخدای کوم ورځ چی پوه شوم چې ښه شوی او ستا د وهلو طاقت لری نو باور پخدای وکړه پخپل یې د غوږ نیسم او تا ته یې راوړم هغه وخت سم د دی یو کال د کارونو بدل ورځخه واخله او داسې وواهه چې تر یو میاشت لځایه پورته نشې ...

که څه هم د زبیر یوه خبره مې لا خوښه نشوه خو لکه چې په ذوالفقار یې تاثیر وکړو؟! ځکه زما له څنګ لری شو او د هغه ګواښونکي او وهلو انداز څخه څه ناڅه راووت او د کوټې منځ کې په ګرځیدو شو، د هغه په دی کار زه بیرته لږ خپل ځای کې څملیدم او هوسا ساه مې واخیسته البته پوهیدم چی دا موقتي اوربند دی او ذوالفقار بغیر د وهلو مې نه پریږدی خو دی خبری ته فکر کول چی نور نه کوم ماموریت شته او نه هم کوم ستونزه او زه ښه پریمانه پیسي هم لرم نو د ذوالفقار وهل راته یو بول شوخي ښکاریدل نه کوم ګواښ؟!

ketabton.com - The Digital Library

زبیر ته حیران وم یعنې د دې دومره خبرو باوجود بیا لګیا وو د پیسو د کم اوسیدلو ښځه یی بنګ،بنګ کاوه د دی لپاره چی د ذوالفقار فکر بیا د دی موضوع خواته نشې کرار می وویل: ه ... هغه محمد څنګه دی؟

زما په غږ ذوالفقار د قدم وهلو حال کې ودرېد په پوسخند یی راوکتل او ویې ویل: اوممم عجب؟! یعنې درته مهمه ده چې د هغه حالت څنګه دی؟

پوهیدم چې غوسه دی خو بیا هم داسې خبره یې زما هیڅ خوښه نشول نو ځکه ما هم تندی تروش کړو او د هغه پشان په پوسخند مې وویل: لکه چی خپل د ورور ګمان دی پر ما کړی؟ "اشاره می بابا ته وه" ستا ورور ته شاید مهم و نه اوسیږی چې زوی مړ دی که ژوندی؟ خو ما ته مهم دی، ما چې هر کار کړی د هغوي د ښه اوسېدلو لپاره مې کړې نه دا چې خپل د اولاد ښځه کلونه، کلونه په داسی خبری کرکه وکړم چې د هغه هیڅ ګناه پکې نه وه ...

ketabton.com - The Digital Library

شاید ذوالفقار ګمان نه کوو چې زه به هغه پیښې ته داسې مخامخ اشاره وکړم؟! ځکه د څو شیبو لپاره هک حیران یې یوازې زما خواته راوکتل ما هم په پوسخند وروکتل، کلونه هم تېر شي هر یو که وبخښم بیا هم بابا، فکر نکوم په دومره آساني دی د هغه د دی دومره کلونو پعذاب کول او کړکه کولو څخه تېر شم او لیاده یې وباسم ...

ذوالفقار- خو زه فکر کوم ته د هغه څخه یو څو درجې بترر جاهل یي..

د ذوالفقار په دی خبره ناساپه دومره غوسه راغلل چی بغیر له دی چی خپل تېپي بدن ته کوم توجه وکړم نیغ په ځای کې کښیناستم او ومې ویل: ته حق نلری ما د هغه سره پرتله کړی ... زما تګ او د هغه مخ ګرځول فرق لری، زه لاړم ترڅو د اقرا او محمد ژوند جوړ کړم خو ... خو ستا ورور داسې حال کې چی کلونه یی و مخ ته وم زما څخه یې مخ ګرځو او زما څخه یې بد

ketabton.com - The Digital Library

راتلل هغه هم یوازې په دی خاطر چې ګمان یې کاوه زما ... زما پر پیدایښت د هغه ښځه مړه شوی ...

زه یی د هغې د مرګ سبب ګڼلم کلونه یې په دی کار راخخه کرکه کول نو .. ته .... ته حق نلری ...(د سینې هډوکی مې بیحد درد کاوه داسې درد چې سم ساه مې لا نشو اخیستلې فکر مې کاوه اوس به د ډیر درد څخه مې نفس بند شې خو د ذوالفقار خبرې داسې اور زړه کې راچولی وو چې غوښتل می د دی ټول څو میاشتو غوسه ورڅخه وباسم زما د بد حال په لیدو زبیر په تلوار له اوږی ونیولم او کوښښ یې وکړو چې بیرته مې په کټ څملوی خو ما یی لاس لری کړو او د ذوالفقار خواته مې وکتل هغه هم لکه چی د راپیښ شوی بحث څخه پښیمانه وو چی په تلوار له کوټې ووت د هغه د وتلو سره سم زبیر په زور په کټ څملولم ...

زبیر- اه خدای مو دواړه خپل پر خدای واخله چې زه درڅخه بیغم شم، څمله څه د ځان څخه دی اوښ جوړ

ketabton.com - The Digital Library

کړې او نه چو کيږی؟ اصلاً دا اوس د داسې خبرو وخت دی چې تاسو يې کوی؟

- زبير ...

زبير- مرګ زبير څه دی؟

- بنده کړه خوله دی.

زبير- سمده ته دی دا پس مرګ ملا په کټ وواهه زه به هم چوپ شم.

بغير د څه ويلو څمليدم خو د سيني هډوکی می داسی درد کاوه چی خپل د غږ د نه ايستلو لپاره مجبور شوم خپل شونډه په غاښ کړم ساه مې نشو اخيستی، د هر ساه اخيستلو سره فکر می کاوه د سينی هډوکی می په زړه کی ننوځې، لا سم نه وم څمليدلې چی د کوټې دروازه خلاصه شوه ډاکټر او ورپسې ذوالفقار کوټې ته رانوت ډاکټر په افسوس او نچ، نچ ويلو زما خواته راغلو .

ketabton.com - The Digital Library

ډاکتر- دا نو څه حال دی؟ ومې ویل کنه یوازې نیم ساعت حق لرې کوټه کې اوسیږې د هغه وروسته لاړ شې، تاسو ولې په خبره نه پوهیږئ؟ دا مریض دی، ټپي دی، طبعیت یې ښه نه دی باید ارام وکړي نه باید ډېر خبرې وکړي ..

د ډاکټر په هر خبره د ذوالفقار د تندی ګونځې ډیرېدل، پوهیدم چې غوسه او خفه دی او دا ټول خبرې او کارونه یې زیاتر د خفګان له لاسه دی ذوالفقار خپل د زړه خبره، خپل اندیښنه زیاتر په کنځلو او ګواښولو کی بیان کول دومره درد می درلود چی نور می کوم توجه ورته ونکړل ډاکټر زما د لاس کنول کی د هغه پرون ماښام پاتی نیم سیروم له سر نښاسو او زبیر او ذوالفقار ته یې د کوټې څخه د وتلو وویل هغوی هم بغیر د څه ویلو روان شول چی د وتلو مخکې ما ورپسی غږ کړل.

- ذوالفقار ...

ketabton.com - The Digital Library

زما په غږ هغه و درید او مخ یی راوګرځو.
- ښه دی؟

مطلب مې محمد او اقرا ته وو تقریبا د نن سره څلورم ورځ کیدل چې د هغوې د حال څخه بیخبر وم، ذوالفقار ژر زما د خبری مطلب واخیست په تروش تندی سر وخوځاوه او ویې ویل: ښه دی، خو ستا د دی حال څخه نه دی خبر، مطلب هېڅوک نه دی خبر ...غوارې ورته خبر ورکړم؟
په تلوار می وویل: نه ...

ذوالفقار بغیر د څه ویلو راوکتل چې ما کرار وویل: د ډاکټر سره خبری وکړه غوارم د دی ځای لاړ شم.
ذوالفقار- فکر نکوم دومره ژر دی رخصت کړې.
- مهم نه ده، که زحمت نه درته کیږی یو جوړه پاک کالې راته راوړه غوارم د غرمي وروسته د دی ځای لاړشم.

ketabton.com - The Digital Library

ذوالفقار بیا بغیر د څه ویلو راوکتل چې ما هم نور څه
ونه ویل او خپل سترګي مې پټې کړل د څو شیبو
وروسته د دروازی د بند کیدلو غږ مې واورید ...

د غرمی د ډوډۍ خوړلو وروسته ډاکتر ته مې د تګ
وویل خو هغه په کلک انکار وکړو، البته ما ته یې انکار
چندان مهم نه وو زما د ښه بخت بوډا زما کالی،
تذکره،موبایل او هر هغه شئ چې پر ما مربوط وه او دا
څو میاشتو کې زما سره وه هغه یې بکس کې اچولی
وه او داسې تر شفخاني رارسولې وه ته وا زه د رښتیا
هم د عربستان مسافر وم؟ د راوړل شوی بکس څخه
مې یو جوړه تور کالي راوخیستل او بغیر له دی چې د
ډاکتر بنګ، بنګ او مخالفت ته کوم توجه وکړم وا مې
غوستل ذوالفقار د کوټې کونج کې بغیر د څه ویلو ولاړ
وو او زما کارونه یی څارل

زبیر هم د بوډا لخوا راکړل شوي دریشي او تقدیر نامه
زما د کالو بکس کې ځای پر ځای کول او همغه حال کې

ketabton.com - The Digital Library

لګیا وو د ډاکتر څخه یې پوښتنه کول چی نور کوم دوا مواتخو ضرورت نشته؟

ډاکتر- زه نه پوهیږم زه د دیوال سره لګیا یم یا که ستاسو سره؟ وایم د ده د سیني دوه هډوکې مات شوی، اوږه یې ټپي ده هغه هم کوم عادی ټپ نه ... مرمۍ خوړلې بدن یې بیحد کمزوری دی که نور نه وی باید یوه هفته خو ضرور پاتي شي باید د نظر لاندی اوسیږی ستاسو څه تلوار دی تلو ته؟

کالۍ می واچول خو په بیحد زحمت، یعنې یو کمیس اچول درې ساعت وخت ونیو دری منه خوله مې وکړل دومره ستړی شوم چی مجبور د څو شیبو لپاره مې په کټ بډ ووهل زما د دی حال په لیدو ډاکټر په غوسه وویل: ها ... دا یې هم حال .. ته ولی په خبره نه پوهیږی؟ ته باید څلرویشت ساعت د نظر لاندی اوسیږی.

ketabton.com - The Digital Library

- ښه یم، څه دلته د نظر لاندې اوسیږم څه کور کې؟
خبره یوه ده، زه هم کوم کار ته نځم غواړم کور ته
لاړشم او هملته کرار په نالۍ څملم او خوب وکړم.

ډاکټر- خو دلته کرار خوب وکړه، دا ځای او کور څه
فرق لري؟ زنګ وواهه کورنۍ ته دې تر څو همدلته دې
ملاقات ته راشي، زما خبره ومنه مه ځه ..
- ما د شفخاني څخه ښه نه راځی دا دوه شپې ځکه
چې بې هوښ وم نو دلته پاتي شوی یم کنه باور وکړه
همغه اول شپه تلم ..

په زحمت په کټ کښیناستم خو سم نیغ نشوم
کښیناستلې او نه هم بغیر د مرستې څخه څملیدلې
شوم، د مرمۍ د ټپ څخه لکه چې د هغه پدرلعنت لغتو
کار کړی وو؟ د سینې هډوکې مې بیحد درد کاوه زبیر
راسره مرسته وکړل تر څو کالې مې سم کړم او ودریږم
پښو کې مې کوم ستونزه نه وه البته هغه خوږه پښه
مې لږ درد کول خو دومره ډیر نه ... ذوالفقار زما د کالو

ketabton.com - The Digital Library

بکس راوخیست او زموږ څخه مخکی له کوټې ووت، د
هغه د وتلو وروسته داسې حال کی چې د زبیر پر اوږه
می لاس اچولی وو کرار،کرار له کوټې ووتلم ...

د شفخانې څخه تر وتلو ډاکتر زموږ پسې وو او
غوښتل یې ما د تلو څخه منع کړی، خو ما ورته هېڅ
کوم توجه ونکړل .. ما د شفخانې د ماحول څخه کرکه
کیدل او که تر مرګ نه وایې رسیدلې هیڅکله خپل په
خوښه شفخانه کې نه پاتې کیدلم فکر مې کاوه
شفخانه کې نفس نشم اخیستې هوا یې داسې درنه او
نیولې وه، کله چې له شفخانې تلو نو د شفخانی ټول
کارکونکې د خدای پامانې لپاره زموږ مخ ته راغلل د
زبیر خبره د قهرمان ملی سره یی ال وداع کول ..د هغه
دی لفظ ته هم خندا راتلل هم غوسه ... هغه په یو
خاص لهجه قهرمان ملی ویل ته وا ما د رښتیا کوم
اټوم په هوا کې خنثا کړی ...؟!

ketabton.com - The Digital Library

ذوالفقار خپل موټر د شفخاني مخکی دروليږ وو همدا چې له شفخاني ووتلو نو موټر کی کښېناستم خو د تلو مخکې زبير تینګار کاوه تر څو د ډاکتر لخوا ليکل شوی نسخه همدلته واخلي، ځکه دلته يی زما ټول دوا مفته راکول؟ يعنې زما د اوسيدو، عمليات، دوا او ټول خدمات رايګان وه؟ دا هم دولت ته د کار کولو له برکت .. خو ذوالفقار په غوسه ورته وويل: خوله دی بنده کړه دوا موږ پخپل اخيستلې شو.

زبير- زه هم پوهيږم چی ته يې اخيستی شی خو دلته مفته ده!؟ پوهيږی يعنې څه مطلب؟ يعنې دا( زبير زما خواته اشاره وکړل او ويې ويل: دا چې اوس ګوری داسې سوری،سوری دلته ناست دی دا د دوي د غلطی له لاسه داسې شوی! که دوی خپل وظيفه په سمه ترسره کړې وايې او امنيت يې صحيح نيولی وايی نو ضرورت نه وو دا خر ځان د مرګ خولې ته واچوی او داسی زخمي شې، دوی خپل مسئوليت نه دی ادا کړی

ketabton.com - The Digital Library

او زه غوارم د دی دوا په اخیستو دویته دا ووایم چی تاسو ډیر نالایق کسان یاست.

د زبیر دی خبری ته مې خندا راغلل او ومې ویل: یعنې ته د یو نسخي دوا په اخیستلو غواړې دا دومره لوی پیغام هغوی ته ورکړې؟

زبیر بد،بد راوکتل او ویې ویل: اول خو هو، او دویم ته دی د خولې کشک وترړه او هر دقه هم دومره خپل دا خیرن غاښونه مه راښکاره کوه، دومره دی د ټولو مخ کې ځان ښه وښود چی هغوی هم د ځان سره وویل چی پر ده خو مرګ هم نه دی شوی، که تا لږ ځان ناروغ نیولې وایی شاید یو څه ډیر توجه یی درته کړې وایی،خو ستا د خلاص خولې له لاسه هغوی درته هېڅ ارزښت درنکړو او له سره یې تېر کړې.

- څه مطلب د سره یې تیر کړې؟ مه وایه چی زړه دی غوښتل ځان د دروغو مریض ونیسم ترڅو ډیر روپي راکړې؟ که مطلب دی دا وی نو افسوس دی پر تا وی ..

ketabton.com - The Digital Library

ځکه زما زړه هغه راکړی پیسې لا نغواړی ما د پیسو لپاره داسې کار نه دی کړی ..

په زړه کې مې د ځان سره وویل البته د دی دوه لک پیسو لپاره مې دا کار نه دی کړی ما د سل لک افغانیو لپاره داسې کار کړی وو،په هر حال بیا هم د زبیر خبره یو څه بل ډول وه زما خوښه نشول.

زبیر- خبره د پیسو نه ده، که تا لږ عقل درلود او ځان دی ناروغ نیولې وایې نو امکان یې درلود خارج ته دی د تداوی لپاره واستوی ..
په ګنګس انداز مې وویل: خارج؟ خو زه خو دومره هم مریض نه یم چې خارج ته مې واستوي؟!

زبیر- ته نو څومره خر یې طاها؟ وایم ځان به دی د دروغو مریض نیولې وایې، ته پوهېږي دولت یعنې څه؟ یعنې زر دانې ستا پشان کسان خارج ته استولې شې زر دانې ... د دوي د جیب خو څه نه کمیږی؟ که تا لږ ځان ناروغ نیولې وایې شاید ته یې هم خارج ته

ketabton.com - The Digital Library

استولې وایې کله چې هلته تللې وایې نو تا کولای شو دوسیه(کیس) جوړ کړی او درخواست ورکړی چې هملته خارج کې پاتې شې ...

پوهیږی اوس وخت زیاتر کسان په همدی بهانه خارج ته ځې، د دروغو یو ویډو جوړ کړی چی زه په خطر کې یم او فلانکی و بستانکی ډله یا کسان غواړی ما مړ کړی، خارج هم ورته قبولي ورکوی ستا خو لا د رښتیا کیس موجود وو باور وکړه ډیر ژر یې قبولې درکول خو افسوس چی ته مغر نلری افسوس ...

په حیرت می ورته کتل خدایه ... څه ووایم؟ یعنې د زبیر مغزه ولې زموږ د مغزو سره دومره فرق لری؟ اخر دا دومره خبری د ده ذهن ته د کوم خوا راځې؟ داسې شیطاني فکرونه ولاکه پخپل د شیطان بدبخت فکر ته لا راغلې وی په دی فکر خندا راغله چې زبیر بد بد راوکتل.

ketabton.com - The Digital Library

چې ما په همغه خندا وویل: دا ته چیرته وی؟ ماښام دی ولې راته دا خبری ونکړل؟ مفت،مفته د خارج قبولې مې له لاسه ولاړل ...

دومره خندا راغلې وه چې فکر می کاوه نفس سم نشم اخیستی زبیر چی وکتل زه ورباندی ریشخند وهم غوسه ورغلل غوښتل یی کوم څه ووایې چی ذوالفقار په غوسه ورته وویل: بنده کره خوله دی دا اوس ستا نصیحت وو؟ دروغ ووایې ترڅو خارج ته لاړشې؟ هلته په خارج کې څه مرګ دی چې تاسو د تلو لپاره دومره ورته ځانونه حقیر کوی؟

زبیر غوښتل ځواب ورکړی چی ذوالفقار بیا اجازه ورنکړل او په همغه غوسه یې وویل: راپورته کیږی یا لاړشم؟
زبیر- صبر لاړشم دا نسخـ ..
ذوالفقار- وایم راپورته کیږی که لاړشم؟

ketabton.com - The Digital Library

د ذوالفقار په تنده لهجه زبیر نور څه ونه ویل او په غوسه موټر ته راپورته شو خو د ډېر غوسي څخه يې د موټر دروازه دومره کلکه بنده کړل چی د ذوالفقار غوسه ناک غږ پورته شو.

ذوالفقار- هوشـــــش حيوان دروازه دې مات کړل!

د ذوالفقار په دې خبره زبیر د موټر دروازه خلاصه کړل او يو ځل بيا يې همغسې په کلک بنده کړل .. د هغه په دی کار زما خندا په خوله وچه شول، پوهېدم چې اوس به يو جنګ جهاني پيل شي، ذوالفقار د قاتلانو پشان د زبیر خواته وکتل او ویې ویل: ولې دی داسې وکړل؟

زبیر بغیر له دی چی ورته کوم خاص توجه وکړی په پوسخند وویل: خو تا ویل هوششش حیوان؟! نو د دی حیوان لکی د موټر د باندی پاتي وه هغه مې راتول کړل ..

ketabton.com - The Digital Library

د زبیر په دی ځواب چی په بیحد جدیت کې ذوالفقار ته وکړو ما خپل خندا کنټرول نشو کړی او د زړه له تل پخندا شوم، خدایه وایي لکۍ مې د موټر د باندی پاتي وه؟! دومره مې په کلک وخندل چی فکر می کاوه د سیني هډوکی مې سره جلا شول د خندا حال کې په درد باندی خپل په سینه مڼ لاس کیخودو، ذوالفقار ته هم لکه چی د زبیر په دی خبره خندا ورغلې وه چی خپل شونډه یې وچیچل او بغیر د نور څه ویلو یې موټر روښانه کړو زبیر نیم نظر زما خواته راواچو او ویې ویل: په کراره اوس به د ډیر خندا څخه مړ شې، زه نه پوهیږم دا ستا د خولط کشک نن ولی دومره خلاص شوی؟ په هر خبره دی هر هر دی؟

په څوکی می ډډه ووهل او خپل لاس مې په سینه کیخود همغه حال کی د درد څخه مې شونډه وچیچل البته زیاتر د خندا د کنټرول کولو لپاره وو نه درد او ومې ویل: باور دی کیږی تقریبا یو کال کیده چی داسې د زړه له خلاصه مې نه وه خندلی ...

ketabton.com - The Digital Library

زما په دی خبره د ذوالفقار تندی تروش شو خو زبیر په پوسخند او څه ناڅه په طعنه لرونکی لهجپ وویل:
ولای مورِ خو همدلته وو خو دا یو کال ستا اوضاع یو څه بدله شوی وه ...

پوهیدم چی اشاره یی څه ته ده نو ځکه د دی لپاره چی د نن غرمي بحث بیا تکرار نشي په تلوار می وویل: زه به لږ څملم فکر کوم صحیح نشم کښیناستلې!؟

زبیر- هو، هو څمله ښه ارام وکړه ستا حساب زما سره خوندی دی..

بغیر د څه ویلو شاته سیټ کې څملیدلم ذوالفقار هم په بیحد کرار موټر روان کړو د هر جمپ او د سړک د کنډ او کپر سره یی فکر زما خوا ته و تر څو پعذاب نشم د دوا تاثیر تراوسه په بدن کې مې پاتي وو یا هم شاید د زبیر خبره زه ورته کمزوری شوی وم چې د ویښ پاتې کیدلو انرژی مې لا نه درلود او سترګی مې پټې ،پټې

ketabton.com - The Digital Library

کیدل چې ذوالفقار د موټر د هینداری څخه راوکتل او ویې ویل: مولا صیب او .. ستا پلار ته مې ستا د حال په اړه خبر ورکړو ... او ورته ومې ویل چې زموږ کور ته راشي ..

د ذوالفقار په دی خبره خوب مې یو دم له سترګو وپرید او په تلوار مې وویل: ټولو ته دی خبر ورکړو؟
ذوالفقار- هو.
- ولې؟ مطلب څه ضرورت وو دومره کسانو ته خبر ورکړې؟ او بیا ولې ستا کور؟ ما خپل کور ته ویسه.
ذوالفقار په تروش تندی راوکتل او ویې ویل: نو ولې زما کور؟

- مطلب مې دا دي چې اوس تا دومره کسان خبر کړې او دومره زحمت دی ویستلې نو ما خپل کور ته ویسه هلته راحت یم ..

ذوالفقار د موټر له هینداری بد،بد راوکتل او ویې ویل: لومړۍ خو دا چې بایــد خبر مې ورکړې وایې ... ځکه

ketabton.com - The Digital Library

سبا ورځ که پلار دی خبر شې چې پر تا دومره کارونه شوی او ما نه دی خبر کړی نو زما ګریوان د هغه بل ځل پشان رانیسی ..
ژر مې وویل: هغه هېڅ حق نلری چې ستا ګریوان ونیسي که زما په غم کیدی نو پخپل دی راشې.

ذوالفقار په پوسخند وویل: تاسو ښځه ګیله نشته تاسو ذاتاً همداسې یاست هغه که لالا دی، ذوالقرنین دی یا حتا که ته ... تاسو خوښیږی خپل ګناه د یو بل چا په غاړه واچوی او ځان بیغم کړی .. ستا پلار هم همداسې خاصیت لری، اوس کرار ناست دی خو کله چې خبر شې چې داسی یو کار شوی او ما نه دی خبر کړې، بیا نو هغه وخت په هېڅ دلیل او منطق نه پوهیږی ما له ګریوان رانیسي او ملامت کوی مې او وایې: چې ما خپل زوی تاته امانت سپارلې وو ... او تخو پخپل پوهیږی چې زه د دی خبرو عصاب،مصاب نلرم که یوه خبره یې وکړل دویم کې ورسره جنګ کوم ...

ketabton.com - The Digital Library

نو ځکه د اول مې خبر ورکړو چې د راتلونکې جنګ مخه ونیسم او پاتي شول خبره زما د کور .. نو ته دی خپل دی حالت ته یو ځل سم وګوره .. دوه ګام صحیح نشې اخیستې زړه دی غواړې په دی خراب حالت دی د یو مریضې ښځې سره یوازې ځان کور کې پریږدم؟ هغه خپل ځان او خپل ماشوم وساتي یا که ستا څخه ساتنه وکړي؟

د ذوالفقار په دی منطقي خبرو خوله مې یو دم بنده شوه، رښتیا یې ویل بابا همداسي وو .. کال دوولس میاشتي یې زما د مرګ او ژوند خبر نه اخیست خو که کوم ورځ خبر شوی وایې چې داسې کار زما سره شوی؟! بیا نو هغه وخت تازه د ده په یاد راتلل چې زه یې زوی یم .. او هغه وخت د بیچاره ذوالفقار ګریوان یې رانیو ... او پاتي شول خبره د اقرا نو دا خبره یې هم څه ناڅه منطقي او د منلو وړ وه ...

ketabton.com - The Digital Library

هغه پخپله مریضه وه څو میاشتي مخکې د ګوردی عملیات کړې وو،هغې پخپل یو چاته ضرورت درلود تر څو د هغې ساتني وکړی څه ورسیږی چې زه هم ورته څملم چې راشه زما ساتنه هم وکړه ... په دی فکرونو خپل مبارکه خوله مې بنده کړل، اول وی که اخر باید یو ځل د ټول خپل او خپلوانو سره لیدنه وکړم تر قیامت خو نشم ورځخه تښتېدلې ...؟ نو څه بهتر همدا نن دا تریخ غړپ تېر کړم؟ په دی فکر بیرته مې سر کیخود ..

زه تر مرګ ورسیدم ما خپل په سترګو مرګ ولید او شیبه په شیبه د عزرائیل"ع" د لیدلو په تمه وم خو بیا هم وژغورل شوم او هغه دی اوس ژوندی یم او ساه اخلم ... نو مطلب زه چې د مرګ سره لاس او ګریوان کیدلې شم نو بابا او خپلوان به څه وی؟ اصلاً داسې فکر به وکړم چې دا د خپلوانو سره لیدنه اصل کې د همغه منحوس ماموریت یو حصه ده؟! څه پروا لری ما

ketabton.com - The Digital Library

دومره وخت د هغه منحوس ماموریت سختي وزغمل دا یې هم په سر .. اخر کې دی خدای بیغمي راوړی ....

په دی فکرونو خپل ځانته مې دلداری ورکول چې ناساپه په بانک کې د هغه اتیا لک افغانۍ فکر راغلو ... د هغه په یاد راوړلو بې اختیاره خوږه مسکا په شونډو راوستل چې د زبیر په خبره ژر لمینځه لاړل ..

زبیر- ذوالفقار تا د ډاکتر ښځه ښه سم پوښتنه وکړل ډاډمن یې چې طاها په سر کوم ټک نه دی خوړلی؟

د زبیر په دی خبره بد،بد مې ورو کتل ذوالفقار هم د هینداری ښځه په مشکوک نظر زما خواته راوکتل د دی لپاره چې ثابت کړم لیوني شوی نه یم په تنده لهجه مې زبیر ته وویل: بنده کړه خوله دی.
زبیر- ولې دی لکه لیونیانو پشان خندل؟
- نه مې خندل ...
زبیر- یعني دا اوس درې منه زما خوله خلاصوه؟

ketabton.com - The Digital Library

- هغه ... د درد څخه مې خندل.

زبیر- الله اکبر ...لومړی ځل دی ګورم یو کس د درد څخه خاندی؟ اوس نو سل په سلو کې ډاډمن شوم چې لیوني شوی یې ...

نه پوهیدم څه ووایم چې زبیر نور خپل خوله بنده کړی؟ ښه وو ذوالفقار مې مرستي ته راغلو.

ذوالفقار- درد لری؟ که ډېر درد لری اوس لا د شفخاني څخه دومره نه یو لری شوی راځه بیرته لاړشو ..

- نه ... نه ضرورت نشته دومره هم درد نلرم ..

زبیر- خو تا ویل درد لری .. هغه هم دومره درد چې د ډیر حیرت د ژړا لځایه ورته خاندی؟

- زبیر ته وقران خوله دی بنده کړه، ما یو بد وکړل صحیح شو؟ نور زما پر عصابو مه ځه.

زبیر په پوسخند د ذوالفقار خواته وکتل او ویې ویل: ګوره وایم یو خبره دی منځ کې مشکوکه ده خو ته یې نه مني.

ketabton.com - The Digital Library

د زبیر په دی خبره لږ ورخطا شوم، دوی په څه شک کړی؟ ذوالفقار په تروش تندی او مشکوک نظر د هینداری څخه راکتل د هغوی داسې کتلو هېڅ خوند رانکړو نو ځکه په تلوار مې زبیر ته وویل: څه اپلاتې لګیا یې؟ د څه مشکوک؟ یو خبری ته مې فکر شو پر هغه مې خندا راغلل اوس کفر می وکړو؟

زبیر د جنایی پولیسانو پشان زما خواته راوګرځید او ویې ویل: دا یې هم بل دلیل چې مشکوک ښکاری؟! لومړی دی وویل د درد څخه دی وخندل؟ خو کله چې لږ فشار درباندی راغلو خبره دی بدله کړ ...؟ نو مطلب یو شې پټوی چې خبره اخوا دیخوا کوی؟

د زبیر جنایي انداز ته مې خندا راغله یعنې که د څو میاشتو مخکې طاها وایې نو شاید وېرېدلې وایې او په همدی دوه الف و ب پوښتنو کې مې د ټول ماموریت د کیسي اقرار ورته کړی وایې ...! خو د پولیسانو سره اوسیدلو البته باید ووایم د عزیزی سره

ketabton.com - The Digital Library

اوسیدلو هوښیار او چالاک کړی وم، نو ځکه کرار مې
سر کیخود او د سترګو پټ کولو حال کې مې وویل:

- لیاده مې وتلې وه چې ته څومره د جنایی موضوعاتو
شوقي یې؟ ښه وو چې را په یاد دی کړل خو متاسفانه
باید ووایم چې زه حوصله نلرم ستا جنایي بیځایه
پوښتونو ته ځواب درکړم البته یو بل وخت شاید؟! خو
اوس یوازی غوارم ارام وکړم او هو پاتي شول خبره
زما د خندا ... نو کله چې عربستان کې وم هلته مې یو
ملګری درلود هغه به تل د افغانستان بد ویل او هېڅ
یې نه خوښیده ...

ما به کله ناکله هغه ته د افغانستان تعریف کاوه او ویل
به مې چې خپل وطن ګل وطن؟ نو اوس مې دی
موضوع ته فکر کاوه که هغه خبر شي زه افغانستان ته
د پښو کیخودلو سره سم داسې سوری،سوری شوی یم
نو څنګه به راباندی ریشخند ووهې؟ او څومره به د

ketabton.com - The Digital Library

زړه له خلاصه راباندی وخاندی؟ نو دی خبری ته په فکر کولو خندا راغله ...

د دی خبری وروسته موټر کې یو دم خاموشی خپره شوه او ما خپل پر ځان صد افرین وویل ... د رښتیا چې هم هر شئ زده کول غواړی، ما چې یو وخت د دروغو یوه خبره نشو کولای اوس داسې په ماهرانه او دقیق انداز مې دروغ ویل چې کله ناکله خپل مې هم باور کیده چې زه د رښتیا عربستان ته تللی وم او داسی یو ملګری مې درلود؟ د څو شیبو چوپتیا وروسته د زبیر طاقت بیا خلاص شو او خپل جنایی پوښتنی له سر پیل کړل.

زبیر- زما تر اوسه باور نه کیږی چې تا دی یو انتحاری کس نیولې وی؟ اصلاً ته څنګه پوه شوی چې هغه انتحاری دی؟ اصلاً که د پوهیدو څخه یې راتیر شو تا یوازی ځان څنګه دومره د هغه سره اخ او ډب وکړو؟ مطلب انتحاری کسان خو واسکټ اچوی او د بم وهلو

ketabton.com - The Digital Library

تبې هم په لاس کی نیسي؟ نو بیا تا څنګه دومره ورسره جنګ وکړو؟ مرمۍ دی وخوړل؟ خو هغه یو تبې ونشو وهلی؟دا خبره هیڅ د عقل سره نه جوړیږی ..

د زبیر په دی خبره دا ځل د رښتیا هم لږ ورخطا شوم، د هغه خبره منطقی وه،خدای دی جنرال او بوډا ته هدایت نصیب کړی دا نو څنګه بهانه وه چی دوی راوړل؟ کولای شو د دی لځایه چې زما څخه د زبیر خبره قهرمان ملی جوړ کړی ویلې وایې چې هوایی مرمۍ مې خوړلی ... یا لاره کی جنګ نښتی وو او ما بدبخت پکی تېک خوړلی،یا زر نور بهانې وه نو څه ضرورت وو چې حتماً باید ما پکی قهرمان کړی؟ اخر خر هم پوهیږی چې یو هوښیار انسان هیڅکله په یو انتحاری ځان نه اچوی!

زبیر- ها؟ څه وشو؟ ولی ځواب نه راکوی؟ لکه چې دروغ دی نه سره جوړیږی؟

ketabton.com - The Digital Library

- ته ولې فکر کوی چی زه دروغ وایم؟ یا اصلاً زه باید ولې دروغ ووایم؟ په څه خاطر؟

زبیر غوښتل کوم څه ووایې چې ما په تروش تندی خبره ورپری کړل، یو وخت د ماموریت په جریان کې بوډا راته یو نصیحت کړی وو؟ راته ویلې وه کوم وخت چې پوه شوی یو نفر ستا په راز خبر شوی یا ستا په اړه داسی معلومات لری کوم چې ته نغواړی هغه کس ورباندی پوه شوی وایې نو د دی لځایه چې خاموش اوسیږی او هغه کس پریږدی چې د هغه موجود اطلاعاتو څخه ستا په ضد کار واخلې، ځواب ورکړه او داسی خبری ورته وکړه چې هغه کم عقل، ساده او لیوني معرفی کړی کله چې داسی کار وکړی نو د هغه کس خبرو ته کوم څوک دومره ارزښت نه ورکوی ما هم هغه تخنیک په زبیر وکارو او د دفاع لځایه مې ورباندی حمله واچول البته لفظي حمله او ومې ویل:

ketabton.com - The Digital Library

- زه داسې فکر وکړه چې ته صحیح یې او زه دروغ وایم؟ اوس دا راته ووایه چې ایا ستا په نظر دا دومره کسان چی هلته نن راغلې وه هغوی هم دروغ ویل؟ ستا په نظر دا کوم هندی فلم دی چی موږ یی درته صحنه سازی کوو؟ ستا په نظر ایا د دې دومره کسانو راتګ دومره عکس اخیستل؟ دومره خبری کول؟ ایا دا ټول دروغ وه؟ او که هو ... نو د څه لپاره؟ یعنی دولت دومره بیکاره دی چی راشې زما لپاره چې نه کوم سیاسي کس یم، نه کوم مهم شخصیت یم زما لپاره راشې او دومره د دروغو پلان جوړ کړی؟ ته دی سر کې د عقل په نوم کوم څه هم لری او کنه؟ زما خو دی عصاب راوخوړل په دی بیخایه پوښتنونو ...

زبیر په تلوار ځان جوړ کړو چی کوم څه ووایې خو لکه چې د بوډا ویل شوي تخنیک کار وکړو؟ ځکه ذوالفقار په غوسه زبیر ته وویل: بس دی.

زبیر- نه ته صبر زه د دغه ځوا...

ketabton.com - The Digital Library

ذوالفقار- ومی ویل بس دی.

زبیر- خو د دغه ځوابـ ....

ذوالفقار- زبیر لکه چې نن دی د رښتیا هم بدن د وهلو لپاره خارښت کوی؟

زبیر چی خوله بنده کړل نو زما پر شونډو یو فاتحانه مسکا خپره شوه، لکه چې د جنايي پولیسانو سره کار کول څه ناڅه فایده هم درلود؟ اخر بلاخره ما خپل په ژوند کې یوه ورځ د زبیر خوله بنده کړی شوه ... زما د خندا په لیدو زبیر کرار د شونډی لاندی وویل: ډیر مه خوشحالیږه دا موضوع شاید ستاسو لپاره همدلته خلاصه وي .. خو زه چی ترڅو ستا د خولې څخه رښتیا راونباسم طاها ... زما نوم به زبیر نه وي ...

زبیر یو ځل بیا د جنايي پولیسانو پشان راوکتل خو ما ورته یوازی وخندل، زړه مې د زبیر د دی لیونتوب پسې لا تنګ شوی وو، د نیم ساعت وروسته کله چې د ذوالفقار د کور مخکینې سړک ته ورسیدو نو زبیر د

ketabton.com - The Digital Library

موټر درولو او ښکته کیدلو وویل چې ما ورته وویل: زموږ سره کور ته نه راځې؟

زبیر د موټر څخه د ښکته کیدلو حال کې وویل: نه، تاسو نن کورنۍ میلمانه لرې نو بهتره به وی چې یوازې اوسیږی او خپل زړه تنګون رفع کړی، موږ خو ډیر وخت لرو ډیر خبری به سره وکړو که څنګه؟ ته به ډیر شیان ما ته ووایي کنه؟

د هغه په دی خبره پخندا مې وروکتل او ومې ویل: نو پخیر لاړشې او هو داسي لاړ شه چې تر یو، دوه هفتو دی مخ لا ونه وینم چې هېڅ ستا د بیځایه خبرو حوصله نلرم.

زبیر غوښتل کوم څه ووایې خو د هغه د څه ویلو مخکې ذوالفقار موټر روان کړو خو ما د هغه غږ د لری څخه واورید چې په لوړ غږ یې وویل: یوازی یوه ورځ ... د هغه وروسته زموږ حساب کتاب شروع کیږی

طاهـــا ....

ketabton.com - The Digital Library

د هغه په دی خبره نری مسکا مې پر شونډو خپره شوه او د زړه له خلاصه مې د خدای شکر ادا کړو، زبیر چې هر څومره عصاب خراب کوونکي وو هغومره په ملګرتیا کې کلک وو د هغه دا ټول جنايي پوښتني او کارونه زیاتر د ملګرتیا او توجه له لاسه کیدل او زه نه پوهیږم ما کوم نیک عمل کړی وو چې خدای د هغه په بدل کې د زبیر پشان ملګری رانصیب کړی وو؟

ذوالفقار بغیر د څه ویلو کرار د کور خواته روان وو، خو زما بیحد خلق تنګ وو .. زړه مې غوښتل خپل کور ته لاړشم د ذوالفقار کور ته تګ مې نه خوښیده او دلیل یې هم معلومداره وو میشا وه! یعني د هغه دومره جنګ او خبرو وروسته هیڅ مې زړه نه غوښت چې د هغې د کور دروازه دی لا وګورم نور خبری او لیدل خو لری، ډاریدم چې هسې نه فهیم خبر شي چې زه د ذوالفقار کور کې یم او بیا یې خرکې غیرت راویښ شي او زما ګریوان راونیسي؟

ketabton.com - The Digital Library

او له بلخوا سل په سلو کې ډاډمن وم چې ذوالفقار که بابا خبر کړی نو مطلب ذوالقرنین کاکا هم ضرور راځې ... یعنې د هغه دومره جنګ او رسوایی وروسته بیا هم زه ډاډمن وم چې ذوالقرنین کاکا یا حتا شاید فرید او فهیم هم راشي؟! زه دا بې شرم قوم پیژنم دوي په دی خبرو نه دی ویشتلي چې جنګ شوی؟ یا که مړی شوی؟ دوی چې کله د یو نوی خبر په اړه واوری نو ځانونه حاضر کوی او اوس خو ضرور راځې دومره غټ خبر د زبیر خبره قهرمان ملی جوړ شوی وم؟!

او همغسې هم وشول همدا چې ذوالفقار موټر خپل د کور مخکې ودروی او زه ورڅخه راښکته شوم نو لومړی نظر چې مې ولګید هغه د فهیم په منحوس مخ وو، د میشا دوی له کور راووت، زما په لیدو لومړی په حیرت راوکتل خو ډیر ژر یې حیرت په پوسخند بدل شو، ما هم ځو شیبې ښه په زیر وروکتل له دی چې د میشا دوي له کور راووت حیرت مې ونکړو، فهیم او فرید هغه منحوس او بیغرت د زماني دی چې بغیر له

ketabton.com - The Digital Library

شک ویلي شم که آسمان ځمکې ته راښکته شي بیا هم
میشا نه خوشی کوی؟! د دی لپاره نه چې مئین دی
ورباندی ... اصلاً داسې کوم خبره نه ده بلکې د
جاهلیت څخه ... ما په بار،بار د هغوی د خولې څخه دا
خبره اوریدلې چې وایې ښځه یا د میږه د کور ده یا
هم د ګور ....

یعنې د ذوالقرنین کاکا زامنو ته دا خبره مهم نه ده چې
جنۍ د ده سره په واده خوشحاله ده او کنه؟ دوي
یوازی کوم شئ چې په نوم وی هغه ځانته ساتي د
مقابل نفر احساسات ورته هېڅ ارزښت نلری او زه
واقعاً د زړه له تل د میشا لپاره خفه وم که څه هم هغې
چنداني کار زما حق کې ونکړو او مفت میدان یې بدنام
کړم خو بیا هم په داسی یو جاهل مې نه وه
پیرزو،یعنې د داسی یو جاهل انسان سره ژوند کول به
څومره دردونکي وی؟ البته د میشا څخه مخکې لومړۍ
افسوس باید زه خپل په خور وخورم چې د فرید پشان
د یو بیعقل انسان په قید کیده ...

ketabton.com - The Digital Library

فهیم لږ رانږدی شو او زما فکر د هغه و مخ ته شو، غوښتل مې خپل د هغه زدني وهلو کوم نښه نښانه يې په مخ کې پیدا کړم خو متاسفانه لکه چې دا څو میاشتي وخت هغه زخمونه جوړ کړی وه؟ ذوالفقار د کور دروازه وټکول او ډیر ژر زما خواته راغلو پوهیدم چې غواړی مرسته وکړې خو نه مې غوښتل د فهیم مخکې ځان ناتوان وښایم نو ځکه د ذوالفقار لاس چې زما سره د مرستي کولو لپاره را اوږد شوی وو اخوا کړو او ومې ویل: ته موټر کور ته ننباسه زه پخپل تللې شم.

ذوالفقار غوښتل مخالفت وکړی خو د هغه د څه ویلو مخکې د فهیم منحوس غږ پورته شو چې په طعنه يې وویل: اوه ... اوه دا لمر نن د کوم خوا راپورته شوی؟ زما د کاکا تښتیدلې زوی د یو کال وروسته کور ته راغلې؟

ketabton.com - The Digital Library

بغیر د څه ویلو مې وروکتل دا ولې شرم نلری؟ یعنې که د ده کار خدای مکړه پر ما شوی وایې زه خو د ډېر شرم څخه پر ځمکه ننوتلم په قران ... خو ته و ده ته وګوره؟ داسی خبری کوی ته وا هېڅ نه دی شوی او امن و امان دی؟! ذوالفقار چې تازه فهیم ته فکر شوی وو تندی تروش کړو او ما یی د غاښونو کرپها واوریده چې د ډېر غوسي څخه یې یو پر بل کلک کړل، پوهیدم چې ذوالفقار دا څو ورځي زما څخه د مرګ تر حد غوسه دی، خو زما د تېپي بدن مراعت کوی او نه مې وهې خو له خدایه یو بهانه غواړی ترڅو خپل غوسه پر یو بل چا خالي کړی او لکه چې هغه کس فهیم وو؟

ذوالفقار زه د اوړی څخه کرار ونیولم او خپل د کور خواته یې بېله کړم او پخپل غوښتل یې د فهیم خواته لاړ شي خو لا ګام یې نه وو اخیستي چې د ذوالفقار د کور دروازه خلاصه شوه او د دروازی خلاصیدو سره سم ما څو مختلف د ښځو د ژړا غږونه واوریدل؟ او عجیب وه خو ټول مې وپیژندل؟ لومړی د ادی د ژړا

ketabton.com - The Digital Library

غږ وو چې د ټولو څخه واضح راتله، دویم د اقرا د مور او دریم د عمه؟ د هغه غږونو په اوریدو بې اختیاره مې مخ د ذوالفقار د کور خواته وګرځو چې نظر مې په بابا ولګید چې له کور راووت ..

لومړۍ شئ ته چې مې فکر شو هغه د بابا کالې وه؟ بابا د تور کالو اچولو عادت نه درلود، یعني زیاتر وخت سپین یا نور روښانه رنګونه یې اچول خو نن یې تور کالي اچولي وه؟ او دا کار یې زه لږ ګنګس کړم؟ ما چې لومړۍ ځل شموئیل ولید نو هغه د بابا په څېرې کی راغلي وو او تور کالي اچولي وه، یوې شیبې لپاره مې ګمان وکړو چې شاید شموئیل وی؟ خو همدا چې زما په لیدو د هغه په تندی کې ګونځې پیدا شول نو پوه شوم چې پخپل زما محترم پلار دی، د بابا یو نه بدلېدونکي عادت همدا وو چې تل زما په لیدو یې تندی تروش کیده!

ketabton.com - The Digital Library

د بابا شاته خنګه چې اټکل مې کړی وو .. ذوالقرنین کاکا له کور راووت او زموږ خواته راغلو همدا چې ما ته راورسید نو بغیر د کوم سلام،کلام یې زه کلک په غیږ کې ونیولم ... د هغه دا کار دومره حیران کړم چې د څو شیبو لپاره هر څه مې لیاده ووتل ... خو ډیر ژر د درد غږ مې پورته شو ذوالقرنین کاکا دومره په کلک غیږ کې نیولې وم چې فکر مې کاوه د سینې هډوکي مې مات شو زما د "اخ" په غږ ذوالفقار چې د جنګ حالت کې د فهیم خواته روان وو په تلوار یې ځان تر ذوالقرنین کاکا راورسره وو او هغه یې زما څخه لرې کړو ...

د ذوالقرنین کاکا د لرې کولو سره سم ما له درد خپل شونډه وچیچل او خپل لاس مې د سینې په مات شوی هډوکي کیخود چې ذوالفقار په اندیښنې له اوږې ونیولم.

ذوالفقار- ښه یې طاها؟

ketabton.com - The Digital Library

درد مې درلود دومره چې ذوالفقار ته مې سم ځواب لا نشو ورکولای، خو له مجبورۍ څخه د دې لپاره چې د فهیم یا بابا مخکې کم رانشم په زوره مې سر وخوځاوه او کرار مې "هو" وویل چې ذوالقرنین کاکا په حیرت وویل: څه وشو؟ ما خوږ کړې؟

ذوالفقار داسې حال کې چې زه یې له اوږې نیولی وم په غوسه یې د ذوالقرنین کاکا خوا ته مخ وګرځو او ویې ویل: مګر ما تاسو ته خبر نه وو درکړې چې طاها په مرمې لګیدلې او ټپی دی؟ هغه وخت ته یې داسې غیږ کې نیسې؟

ذوالفقار غوښتل ذوالقرنین کاکا ته نور هم خبرې وکړي چې ما یې لاس ونیو او منع مې کړو، عمر کې یو ځل ذوالقرنین کاکا خدای خبر د کوم خوا راپورته شوی وو چې داسې مهربان شوی وو او زه یې غیږ کی نیولې وم نه مې غوښتل داسې شرمنده شي نو ځکه یو دروغجن مسکا مې پرشونډو راوسته او ومې ویل: کوم ستونزه

ketabton.com - The Digital Library

نشته ذوالفقار زه ښه یم، راځې دننه کور ته بده ده ټول کوڅه کې ولاړ یو.

ښه وو زما بد حال یو ګټه ورسول او ډیر ژر ذوالفقار کور ته ننویستلم کله چې کور ته ننوتلم نو د بابا له خنګ تیر شوم نه هغه کوم څه وویل او نه هم ما، یوازې هغه د دروازې له مخې لرې شو ترڅو زه ننوځم کله چې کور ته ننوتلم او مخامخ حالت مې ولید نو ځان سره مې وویل چې ای کاش همغه شفخانه کې پاتې وایې؟! یعنې زموږ ټول په نوم چې خپل او خپلوان وه راغلې وه ... د ټولو څخه جالب راته د ښځو ژړا وه؟! یعنې عمه،د ذوالقرنین کاکا ښځه ادې، حسنا،مروه،فرشته د اقرا مور او حتا د ذوالفقار ښځې داسې ژړل ته و زما مړې راوړې؟!

البته که بل فرض زما مړی هم راوړې وایې بیا هم نه پوهیدم چې فرشته نو ولې داسې په ساندو،ساندو ژاړې؟ یوه شیبه کې سم د محشر میدان شو زما د کور

ketabton.com - The Digital Library

ته ننوتلو سره سم ادی چې په برنډه کې ولاړه وه زما په لیدو په ژړا زما خواته را په ځغاستو شول خو لا رارسیدلې نه وه چې بابا یې مخه ونیول د لومړۍ ځل لپاره د بابا په دی کار خوشحاله شوم، که څه هم د ادی پسي مې زړه بیحد تنګ وو خو په کوم سرعت چی هغه راروانه وه فکر می کاوه د غیږې نیولو سره سم یې زما ساه هم وتل ...

ادی چې د بابا لخوا ونیول شول نو د لومړۍ ځل لپاره ما د هغې د اعتراض غږ واورید چې په ژړا یې بابا ته وویل: خوشې می کړه ظالم غوارم خپل زوی وګورم.

د ادی په دی خبره زما سترګي له حیرت خلاصي پاتی شوی، څه وشو؟ ادی بابا ته وویل ظالم؟ لومړۍ ځل وو چې داسې یو خبره مې د ادی څخه اوریده کنه د ادی عادت وو یوازی په سترګو او صحیح دی بابا ته ویل هېڅکله یې د مخالفت او نه منلو په نوم کوم څه نه پیژنده ..په همغه حیرت مې د بابا خواته وکتل چې

ketabton.com - The Digital Library

هغه په غوسه خپل سترګي خلاص او بند کړل او کرار یې وویل: ټپی دی،غیر کې مه نیسه د سیني هډوکی مات شوی په کراره ورسره خبری وکړه، ویني چی ژوندی دی نو دا بد حال په څه خاطر؟

د بابا په خبرو د ادی ژړا له پسی زیاته شوه چې دا ځل زه پخپل ورمخکی شوم بلا دی زما د مات هډوکو پسی شې ادی داسې جګر سوزه ژړل چې زما زړه یې لا په درد راوړ زما په مخکې تلو بابا په تروش تندی د ادی له مخې لری شو چې زه ورنږدی شوم او د ادی لاس مې ښکل کړو زما په دی کار هغې په ژړا زما سر ښکل کړو خو غیر کې ونه نیولم،لکه چې د بابا خبرو تاثیر کړی وو؟ ادی غوښتل کوم څه ووایی خو ذوالفقار او بابا اجازه ورنکړل او کور ته یې ننویستلو ما ته یې د میلمنو کوته کې ښه سم فرمایشي ځای اچولې وو ..

ذوالفقار مرسته وکړل چې ځای کې ځملم خو همدا چې ملا مې په نالي ولګیده فکر مې وکړو چې سم د مرمی

ketabton.com - The Digital Library

ټک مې وخورو .. داسې یو مردار درد مې سینه او اوږه کې وپیچل شو زما د درد په لیدو ذوالقرنین کاکا په تلوار وویل: ما تاسو ته وویل چې نالي باندی ځملیدل ورته ښه نه دی کاش یو کټ مو ورته راوړی وایې؟

د هغه په دی خبره د کور د هر کونج د مشوری یو غږ پورته شو، یو ویل زموږ کور کې کټ وو، بل ویل کاش موږ ته مو ویلې وایې موږ ورته کټ راوړو، بل ویل موږ به یې اوس ورته راوړو ... خلاصه چې د مور څخه د مهرباني میری چل وشو، خو ما دومره درد درلود چې بغیر له دې چې د هغوي کوم خبری ته پام وکړم د ذوالفقار لاس مې کلک نیولې وو او سترګې مي پټې کړی وه،زما د درد په لیدو ذوالفقار په اندیښنی وویل: یو دوه بالښت راوړی ترڅو تکیه ووهي زه اوس ځم پخپل ورته کټ راوړم ...

د هغه په خبره بیر ژر دوه بالښت راورسیدل ذوالفقار مرسته وکړل ترڅو کښینم او د حق تیر نشم د ځملیدو

ketabton.com - The Digital Library

لځایه کښیناستل ښه وه دومره درد مې نه درلود، کله چې لږ طبعیت می ښه شو او ځای پر ځای شوم نو تازه کوټه کې موجود کسانو خواته مې فکر شو، کوټه ماشاءالله تر سر ډکه وه زما څنګ ته نالي باندی ادی ناسته وه او زما خواته یې راکتل او خپل اوښکې په ټکري پاکول د هغې څنګ ته بابا په تروش تندی ناست وو او وریسی عمه،بشیر ماما، ذوالقرنین کاکا، د ذوالقرنین کاکا ښځه، فرشته چې دوه سترګې په ما کې وه او اوښکې نه وچېدل نه وم خبر چې دومره مینوال لرم ..!

د هغې څنګ ته د ذوالفقار ښځه د اقرا مور او کوچني خور وه خو اقرا نه وه؟ نه اقرا وه او نه هم محمد؟!

د هغوی په نه لیدو لږ ورخطا شوم خو لا مې خوله نه وه خلاصه کړې چې د کوټې د دروازی سره مې یو سیوری ته فکر شو، کله چې ښه مې وروکتل نو اقرا وه .. محمد یې غیږ کې نیولې وو او په سرو سترګو له ژړا

ketabton.com - The Digital Library

یې زما خواته راکتل د هغې په لیدو بې اختیاره مې مسکا پر شونډو راغله، د هغې دا یو خاصیت زما پشان وو.. کله چې خلک به ډیر شول نو کوښښ یې کاوه داسې ځای اوسیږي چې د چا نظر وربانديي ونه لګیږي، کنه په کوټه کې د موجود ټول کسانو څخه ما ته رانږدې هغه وه ..

هغه باید د ټولو مخکې زما خواته راغلې وایې لومړی د پوښتني کولو حق د هغې وو، خو پوهیدم چې شرمیږي، پوهیدم چې ورخطا ده او نشی کولای د دومره خلکو مخکې زما د حال پوښتنه وکړي او رانږدې شی زړه مې غوښتل بغیر د ادی، عمه حسنا، مروه او البته د اقرا د مور او خویندو څخه نور کوټه کې موجود ټول کسان وباسم او اقرا راوغواړم غوښتل مې د هغې سره خبری وکړم خو افسوس چې بغیر د کتلو مې هیڅ کار نشو کولای ...

ketabton.com - The Digital Library

محمد په یو خوار او ګنګس نظر شاوخوا کتل لکه چې د دومره خلکو په لیدو حیران شوی وو؟ باور مې نه کیدو د څو میاشتو په موده کې غټ شوی وو .. څهره یې بل ډول ښکاریده، د موبایل تر شا یو رقم وو خو چې مخامخ مې لیدو نو بل رقم معلومیدی ... زما د نظر په تعقیب ذوالفقار د کوټې د دروازی خواته وکتل چې ما ژر خپل نظر د هغه خوا واخیست، یعنې د دومره وخت وروسته او د دی باوجود چې واده مې کړی وو بیا هم دا چې اقرا ته د کتلو وخت کې یو چا لیدلې وایې شرمیدم ...

ذوالفقار د نیم نظر اچولو وروسته بیرته زما خواته راوکتل او لکه چې پوه شو چې زه د شرم څخه سور شوم چې نرۍ مسکا یې پر شونډو راغله د هغه په داسی خندلو زما شرم لاپسي زیات شو، خپل ځانته مې غوسه راغلل اخر دا اوس د شرمیدولو خبره وه؟ خو ښځه مې ده ورته ګورم نوش جان مې د ټولو دی لاس خلاص وی، ذوالفقار نه پوهیږم د سترګو په اشاره خپل

ketabton.com - The Digital Library

ښځې ته څه وويل؟ چې هغه په تلوار خپل لځايه پاسيده او د اقرا خواته ورغلل ...

د يوى شيبي لپاره مې ګمان وکړو چې شايد غواړې اقرا کوټې ته راوړې؟ او ما دا کار نه غوښت، يعنې منم چې د اقرا سره مې غوښتل خبرى وکړم او د محمد پسې مي بيحد زړه تنګ شوى وو، خو نه مې غوښتل د دومره کسانو مخ کيدى اقرا راشي .. البته د دى لپاره نه چې خداى مکړه په زړه شکمن وم يا داسې کوم بل خبره ما د اقرا لپاره نغوښتل هغه راشي،پوهيدم چې مجلس کې د دومره خلکو مخکې نشې راتلې او شرميږى، کله چې د ذوالفقار ښځې اقرا کوټي ته د رانوتلو لځايه بيخې د دروازى له کونج لرى کړل نو تازه د ذوالفقار د خبرى تر مطلب ورسيدم کله چې هغه ورځ يې زبير ته وويل زه طاها پيژنم ... د رښتيا چې هم هغه زه پيژندلم د منني په پار مې وروکتل چې هغه لځايه پاسيد او ويې ويل:

ketabton.com - The Digital Library

– ښه نو، زه ځم ګورم که یو سم کټ مې پیدا کړو طاها ته یې راوړم، تاسو هم ډیر شور ماشور مه جوړوی ډاکټر ویل باید آرام وکړی،البته ډاکټر خو بیخې نه رخصت کاوه ویل یې تر یو هفتي خو باید د نظر لاندی اوسیږی خو دی ( ذوالفقار زما خواته اشاره وکړل او په تروش تندی وویل: خو پروفیسور صیب د ځان د رخصت کیدو حکم پخپل صادر کړو او راغلو نو اوس یې پریږدی لږ آرام وکړی.

د ذوالفقار د خبری په تایید کې ټولو خو "هو" وویل خو بغیر د ذوالفقار څخه یو کس هم له کوټی ونه وت!؟ د ذوالفقار د تلو وروسته یو دم یوازی شوم .. کاش نه وایې تللی د هغه شتون ډیر ښه وو اوس ټولو ما ته خوله نیولی وه او هر چا یو پوښتنه کول بلخصوص بشیر ماما چې پوښتني زیاتر ریشخند، ټوکي او خلاصه د حد تیر وه، شاید نیم ساعت لا نه وو تیر شوی چی فکر می وکړو سر مې راباندی ګنګس شو احساس می

ketabton.com - The Digital Library

کاوه د هغوی غږونه لکه د میخ پشان زما سر کی ټکول کیږی داسې بد راباندی لګیدل

خو بیا هم د شرم او مجبوریت څخه ناست وم او د هغوي د بیځایه پوښتونو ځواب مې ورکو،بشیر ماما د زبیر پشان خبری کول او لګیا وو ویل یې چې موږ باید پر دولت عریضه وکړو ترڅو یا ما خارج ته ویسي یا هم سم ډبل پیسي راکړی؟! او ذوالقرنین کاکا هم د هغه د هر خبری سره لس نور خبری یوځای کول او تایید یې کاوه یوازینی کس چې هېڅ دی موضوع کې څه ونه ویل هغه بابا وو! یوازی غوږ نیولې وو نه یې د چا خبره تایید کول او نه هم رد!؟

د بشیر ماما او ذوالقرنین کاکا بیځایه مشورو چې زور واخیست د لومړی ځل لپاره مې زړه کې ذوالفقار ته کنځل وکړل څه جبر وو چې دا ټول کلې پر ما خبر کړو؟ البته فکر نکوم ذوالفقار دی ټول خبر کړی وی؟ فکر کوم زیاتر پخپل راغلې نور د کښیناستلو توان مې

ketabton.com - The Digital Library

نه درلود زړه مې غوښتل سترګی پټی کړم او ویده شم خو افسوس چی داسې د څلور خواوو څخه محاصره شوی وم چی په راحت فکر مې سترګی لا نشو ترلې، د بابا په غږ په سل زور او زحمت مې سترګی خلاصی کړل.

بابا- ښه یې طاها؟

د بابا په غږ لکه چې معجزه شوی وی ... یو دم ټول کوټه چوپه شول او زموږ خوا ته په راکتو شول د هغوی داسې ناساپه چوپ کیدلو باندی ورخطا شوم، تر دا یو دقیقي مخکی مې زړه غوښتل ټول چوپ شی خو اوس ... اوس می زړه غوښت یو نفر خبری وکړی او ما د بابا د درووند نظر څخه بچ کړی خو متاسفانه چی هیڅوک مرستی ته رانغلل ..

- هو ښه یم.

بابا- خو زه فکر نکوم چې ښه اوسیږی(بابا خپل د دی خبری سره سم بغیر له دی چې زما حیران نظر ته

ketabton.com - The Digital Library

وګوری په همغه تروش تندی کوټه کی موجود ټول کسانو ته وویل: بهتره به وی چی یو څو ساعت یی یوازی پریږدو، ذوالفقار ویل ډیر وخت بې هوښ وو نو د ډیر بی هوښي وروسته ناساپه داسې شور ماشور یې په سر جوړول ښه نه دی ..

بابا دا خبره وکړل او لومړۍ خپل لځایه پاسید د هغه وروسته رسماً ټول یې له کوټې وشړل؟! یعنی د لومړۍ ځل لپاره د بابا دا کار می خوښ شو دا د بني اسرائیل قوم په خبرو نه دی مجبور همداسې ورسره وکړی، د ټولو د ویستلو وروسته بابا زما خواته راغلو نه پوهیږم ولی خو اوس چی راته داسی مخامخ وو نو د غوسي او خفګان لځایه ورڅخه شرمیدم؟!

یعنی ما دومره دا څو وخت ځان سره وویل چی ما ورڅخه بد راځي او فلان دی او بستان دی؟! خو اوس چی راته مخامخ وو یوازیني حس می چی درلود هغه شرم وو؟ نه شرم هم نه وو .. زیاتر یو ډول نفس تنګي

ketabton.com - The Digital Library

او خلق تنګی وه زړه مې نغوښت ورسره یوازی پاتې شم یو ډول عجیب احساس می درلود داسې لکه یو بیګانه کس سره چی انسان نغواړی اوسیږی او پعذاب وی، هو پعذاب د بابا شتون زه پعذابولم، بابا په همغه تروش تندی بغیر د څه ویلو زما خواته راغې د هغه په نږدی راتلو لږ وډار شوم نه پوهیږم ولې خو فکر می کاوه هسی نه ومی وهی؟!

په قران د بابا او ذوالفقار د وهلو او غوسې کولو وخت نه دی معلوم دوی دواړه ناساپه لیونیان کیږی او وهل شروع کوی، کله چی زما خواته راښکته شو یو دم ساه ویستل می بند شول فکر می وکړو چی د رښتیا غواړی ما ووهی؟! خو د هغه په خبره د شرم می شونډه وچیچل.

بابا- لږ تکیه دی اخوا کړه ترڅو بالښت دی سم کړم،خمله دومره کښیناستل درته ښه نه دی.

ketabton.com - The Digital Library

یعنی زه کوم فکرونو کی وم او بابا کوم فکر کی وو؟ خپل د څو شیبو مخکی فکر باندی شرم راغلو د بالښت څخه مې تکیه اخوا کړل بابا په تلوار دواړه بالښتونه زما له شا واخیستل او دی بلخوا ته یی کیخودل د هغه وروسته زما اوږه یی ونیول ترڅو مرسته وکړې زه په کراره څملم که څه هم درد می درلود او صحیح نشوم څملیدلی خو دا چی بابا دومره نږدی وو او زما اوږه یی نیولی وه د ډیر شرم څخه مې درد لیاده ووت او ژر څملیدم ..

د څملیدو وروسته بابا د څو شیبو لپاره همغسې زما سر ته ودرید او زما خواته یې راکتل شاید کتل یی چی درد لرم او کنه؟ خو ما سترګي پټی کړی وه او یوازی مې غوښتل بابا ژر تر ژر لاړ شې د څو شیبو وروسته فکر مې وکړو چی بابا لاړو؟ نو ځکه کرار مې سترګی خلاصی کړل خو هغه تر اوسه زما څنګ ته ولاړ وو زما د خلاص سترګو په لیدو یی کرار وویل:

ketabton.com - The Digital Library

بابا- ذوالفقار ته زنګ وهم چی دوا دی راوړی شاید هغه کی د درد کوم شې مې وی؟

سر مې د سمده په توګه وخوځاوه او غوښتل مې بیرته سترګي وترم چې بابا وویل: اوږه دې ډېر درد کوی یا د سیني هډوکي؟ ذوالفقار ویل په اوږی دی مرمۍ خوړلې؟

- هو .. هغه په اوږه مې مرمۍ لګیدلې ...خو دومره درد نلرم ښه یم.

بابا- نو څو شیبې مخکې ولې ناساپه رنګ دی دومره خراب شو؟

په بنده،بنده ژبه مې وویل: ه ... هغه ... بیحد ډیر غږونه وه ... ن... نو ... ناساپه سر مې په درد شو ...

بابا سر د پوهیدو په انداز وخوځاوه او بلاخره زما له څنګ لری شو خو مخامخ نالې باندی کښیناست او دوه سترګي ماته ونیول، د هغه داسي کتلو باندی زړه کې مې ځان سره وویل هغه شور ماشور لا ښه وو اوس د بابا د نظر لاندی څوک نفس اخیستی شې؟ د

ketabton.com - The Digital Library

ماشومتوب څخه ورڅخه ډاریدم او دا یوازی د وهلو په خاطر نه وو منم بابا زه ډیر وهلم خو زما وېره د هغه څخه د وهلو په سبب نه وه ... بابا یو ډول د پخوا خلکو خبره څاره یې درلود، یو ډول هیبت داسې چې ما هیڅکله مخامخ ورسره خبری نشو کولای ...

یعنې زما یاد کې نه راځې کوم ورځ دی زه د بابا سره په یو مجمې کښیناستلې اوسیږم او ډوډی می خوړلې وی، زموږ ډیر، ډیر احساساتي صحنه د اختر په ورځ وه چې ما به یې لاس ښکل کاوه او اختر مبارکي به مو یره کول .. بس همدا زموږ د پلار او د زوی د میني اخری حد وو، البته دا نشم ویلې چې بابا یوازی زما سره بد وو نه بابا ذاتً همداسې وو د طاهر سره یې هم چندان خبری او مجلس نه درلود خو بیا هم زما څخه یې ډیر د طاهر سره خبری کول که خبری هم نه کول پر هغه یی کار کاوه

ketabton.com - The Digital Library

طاهر هغسې وکړه، داسې وکړه، کور ته فلان شئ راوړه، فلانکي کس ته لاړشه خلاصه د کاروبار او مجلس نفر يې طاهر وو، خو ماته به چې راورسيد نو امر کول به يې شروع شول طاها فلاني ځای ته مه ځه، طاها د فلانې کس سره مه ګرځه، طاها فلانکې کار مکوه، طاها د شپې وخت ويده شه باور پخدای زما د خوب وخت يې لا ټاکلې وو ... او خدای مکړه يوه ورځ ما د غلطي ښځه د هغه کوم حکم نه وايې پر ځای کړې نو پر تاسو دی ګلانو وريږی او پر ما دی ږبری ... يعنې هغه وخت يوازينی کس چې د بابا د وهلو ښځه زه ژغورلې شوی هغه پخپل خدای وو ...

ځکه نور د ځمکی په سر چا د بابا په مقابل کی ما ته پناه نشو راکولې، يعنې ما به د ډېر وېری ښځه د ذوالقرنين کاکا کور ته پناه وړل چې ګوندی هغه به مې د بابا ښځه بچ کړی؟ خو بابا به هملته راتلو او زه به يې د هغه مخکې وهلم ... يعنې اصلاً ورته مهم نه وه چې ذوالقرنين کاکا هلته دی يا نه ... هې ما چې

ketabton.com - The Digital Library

څومره وهل د بابا څخه خوړلې فکر نکوم په تاریخ کیدی کوم بل چا خپل د پلار څخه دومره وهل خوړلې وی؟ او عجیب لا دا چې زه بیحد عاجز وم؟! باور پخدای زه ماشومتوب کی دومره معصوم وم چې حد یی نه درلود یوازیني خلاف کار می کرکټ کول وه بس .. چې هغه هم ...

بابا- مسافری څنګه وه؟

د بابا په غږ خپل د فکرونو څخه راووتلم.

- ها؟

بابا-وایم د مسافری ژوند څنګه وو؟ سخت وو؟

د بابا په دی خبره پوسخند مې پرشونډو راغلو او هرڅومره چې کوښښ می وکړو چې ځان کنټرول کړم خو ونه توانیدم او اخر مې د زبیر خبره خپل نیش وواهه او ومې ویل: زه عادت یم د مسافری او یوازی اوسېدلو سره،دومره سخته نه وه اخر ټول عمر مې همدی حال کې تېر کړې ..

@Shuhab09

ketabton.com - The Digital Library

زما په دی خبره چې مخامخ اشاره مې د بابا د هغه
ظلمونو خواته وه کوم چې زه یې مجبور کړم له کلي
څخه د پوهنتون ویلو په بهانه راوتښتم او کلونه د
ذوالفقار په کور د مسافرانو پشان ژوند تیر کړم او تل
راته ځان یوازی او بې کس ښکاریده .. هغه وختونو
زما د ژوند بدترینه وختونه وه بابا د څو شیبو لپاره په
چوپتیا کې راوکتل د هغه وروسته یې وویل: ځینو
کسانو باندی خدای دا حال راوړی وی او هغوي محکوم
دی په یوازی توب ..خو ځینې کسان بیا د مستي خیټي
ځانونه مسافر کوی لکه تا ... البته ملامت نه یې دا
ځینې خاصیتونه او عادتونه دی د ماما خواته تللي ...

هغه همداسې کم حوصله او بیحد احساساتي دی، کنه
ما خو نه یادیږی چې ما دی ته له کور شړلي اوسیږی؟
یا مې په زور مجبور کړی اوسیږی چی له کلي لاړ شې،
ته پخپل زړه په زر بهانو له کور لاړی او همدا چې ښار
ته دی پښه راورسیدل نو نه دی پلار پیژنده او نه هم

ketabton.com - The Digital Library

مور او اوس هم نه شرمیږی چې د ښځو پشان ګیلې هم ته کوی؟

د بابا دی خبرو ته مې خوله خلاصه پاتې شوه، ده څه وویل؟ د ماما خاصیتونه؟ د خبرو څخه یې واضح ښکاریدل چې اشاره یې بشیر ماما ته نه وه؟! نو مطلب استاذ یادوی؟ عجب یعنې بابا هم خبر دی چې زه خبر شوی یم د هغه کیسې څخه؟ ما تر اوسه فکر کاوه یوازی ذوالفقار د دی موضوع څخه خبر دی او هغه هم د زبیر له برکت، خو نه لکه چې بابا هم خبر دی که بابا خبر دی نو ډیر امکان یې شته چې استاذ هم خبر اوسیږی؟

خپل ځواب مې پخپل ورکړو، خود خبر دی دا چې نن ټول کورنۍ راغلې خو استاذ نه وو راغلې مطلب د کیسې څخه خبر دی او زما سره د مخامخ کیدلو زړه نلرې .. د بابا دومره بیغم اوسیدلو ته مې غوسه راغلل یعنې ده خپل ټول ګناه زما پر غاړه راواچول او اوس

ketabton.com - The Digital Library

کرار ناست دې او وایی ته پخپل ملامت یی ځکه احساساتي وی؟؟؟

په دی فکر په غوسه مې وویل: یعني ملامت اوس زه یم؟ یعني کلونه ما خپل د مړې معشوقي په غم کې خپل زوی ملامت حساب کاوه او د رنګ مې لا ورځخه بد راتلل؟

زما په دی خبره بابا یو دم خپل ځای کې نیغ کښیناست او په یو غوسه ناک لهجه چې زه یې د وېرې څخه قبض روح کړم ویې ویل: د خولې سره دی پام کوه، کوم څوک چې ته یادوي هغه اصل کې ستا مور ده نو په انسانیت یی نوم واخله.

عجب! باور مې نه کیدو یعنی پر بابا باندی هغه دومره ګرانه وه چې د کلونو وروسته اوس لا نغوارې د هغې نوم دې زه بې اودس واخلم؟

ketabton.com - The Digital Library

په پوسخند مې وویل: یوازې اولاد راوړلو باندې خلک پلار او مور نه کیږي هغه اولاد مسئولیت غواړي،ساتنه غواړي د حیواناتو او انسانانو فرق په همدې کیدی،شاید ژنیتکي توګه زه هغې دې نرۍ ته راوړې اوسیږم خو زما مور هغه نه ده .. هغه زما لپاره یوازې او یوازې ستا دویم ښځه ده البته میره ورته ویلې شم خو مور ... هیڅکله هم نه ...

په تمه وم چې بابا غوسه شي جنګ وکړي،کنځل وکړي خو هغه یوازې خپل سترګي پټې او خلاصي کړل د هغه وروسته یې وویل: چا درته وویل؟
په ګنګس انداز مې وروکتل د خبرې په مطلب یې پوه نشوم چې هغه بیا وویل: چا درته دا خبرې کړې؟ ګمان نکوم چې خسر دې دا خبرې درته کړې وی ځکه هغه دومره هم بیعقل نه دی، البته که کولای نو همغه لومړۍ کلونو کې درته ویل چی هغه دې ماما دی .. نو که هغه نه دی درته کړې چا ته د دې کیسو څخه خبر کړې یې؟

ketabton.com - The Digital Library

په پوسخند مې وویل: څه فرق کوي چې چا راته ویلې؟ مهم دا ده چې رښتیا یې ویلې او زه خبر شوم او پوه شوم چې دا ټول عمر ولې ستا د سترګو اغزی وم؟ او ولی دی تل زما څخه کرکه کیدل ..

بابا په حیرت وویل: کرکه؟ چا ویلې چې ما ستا څخه بد راځې؟

بابا چې ځان داسې ناګاره اچو ما ته یې سخت زور راکوو په پوسخند مې وویل: څه چی د رښا ورځ پشان ښکاره وی ضرورت د چا بیان کولو ته نه وی ... نه یوازی زه ... بلکي ټول خپل او خپلوان پوهیږی چی تا زما د رنګ څخه لا بد راځې .. زه هم پوهیدم خو دلیل باندی نه پوهیدم البته ... (د بابا خواته مې وکتل او خپل اخری ټک می ښه زدني وکړو او ومې ویل: البته کله ناکله مې ګمان کاوه چی شاید ادی ستا څخه مخکې د کوم بل چا سره واده کړی وی؟! او زه یې د

ketabton.com - The Digital Library

همغه خاوند زوی اوسیږم؟! نو ځکه تا دومره راڅخه کرکه کیږی خو دی خبری ته می فکر نه وو شوی ...

بابا څو شیبې د حیرت څخه په خلاص سترګو راوکتل خو ډیر ژر یې تندی تروش کړو او په غوسه یی وویل: ومې ویل کنه ملامت نه یی دا خاصیت دی د هغه بې مصرف، جاهل ماما خواته تللې هغومره بیعقل او هغومره ماشوم ...

نور مې د خبرو حوصله نه درلود یو خوا می سر درد کاوه له بلخوا بابا ځان داسی نیولی وو ته وا ټول غلطې زما ده او دی پاک پاکیزه دی؟؟ خدایي مې د داسی کسانو څخه بد راتلل کوم چې خپل ملامتیا او ګناه نه منې او تل کوښښ کوی د نورو په ملامت کولو ځان ښه او سم ثابت کړې، سر مې کیخود او سترګي مې پټي کړل چی د بابا غوسه ناک آواز مې تر غوږ شو.

بابا- کله چی درسره خبری کوم نو ځواب راکړه د خر پشان سترګي مه پټوه ...

ketabton.com - The Digital Library

د هغه په دی خبره سترګي مې خلاصې کړل او ورو مې کتل ما نه غوښتل د هغه سره خبری وکړم بلخصوص اوس چې هم مې سر درد کاوه او هم د خبرو حوصله مې نه درلود خو دا چې بابا ځان داسي بیګناه نیولې وو او ټول ملامتیا یې زما په غاړه راچول دا کار یې سخت زور راکو او زړه مې ویل طاها نن دی د خولۍ کشک خلاص کړه او ښه سم د دی ځو کلونو د زړه براس دی ورباندی وباسه .. بلا دی تور ورپسی شې چی اخر کی وهل خوری یا که کنځل .. خو نن خپل زړه ورباندی یخ کړه، په دی فکر لړ خپل ځای کې کښیناستم او بغیر له دی چې خپل د سیني درد ته کوم توجه وکړم ومې ویل:

- یعنې ستاسو په نظر ټول ملامت زه یم او تاسو هیڅ غلطي نه ده کړی؟

بابا بغیر له څه ویلو په تروش تندی راوکتل چې ما په پوسخند وویل: یعنې زه بغیر د هیڅ کوم خاص دلیل څخه د کلې څخه راغلم؟

ketabton.com - The Digital Library

بابا بیا هم کوم څه ونه ویل چې ما وویل: په یاد مو دي په لسم ټولګي کې زه په څهارنیمه امتحان کې په یو مضمون کې ناکام شوی وم؟ او هغه هم ځکه چې په راسته لاس لړم چیچلې وم او لیکنه مې نشو کولای استاذ هم بغیر د کوم توجه ناکام کړم، کله چې تاسو خبر شوی نو تر مرګ مو ووهلم داسې چې د ولاړېدو لا نه وم بیا همغه کال د همغه ټولګي په سالانه امتحان کې زه دریم نمره شوم! خو تاسو یو تش آفرین لا رانکړو؟!

بابا بغیر د څه ویلو په همغه تروش تندی راکتل چې ما په پوسخند وویل: دا خبره مې ځکه وکړل ځکه تاسو تل همداسی یاست ... تاسو زما د زړی اندازه غلطي ښخه غر جوړوی او ما وربandi تر مرګ وهې او ملامت کوی مې ... خو هېڅکله زما ښه تاسو ته نه معلومېږی تاسو دا ولیدل چې زه د کلي ولاړم یا ستاسو خبره وتښتیدم خو دا مو و نه کتل چې ولی لاړم؟ ولې وتښتیدم؟ تاسو هغه کور پر ما جهنم کړی وو فکر مې

ketabton.com - The Digital Library

کاوه هغه یو ګوله بوډۍ چې راکوی هغه پر تاسو بار ده نو راغلم تر څو پر تاسو بار ونه اوسیږم راغلم تر څو نور مو د سترګو اغزی ونه اوسیږم ...

او اوس ... اوس هم کوم ګیله نلرم نه هم کوم شکایت لرم دا خبری مې هم زیاتر خپل په ګمان د یو احساساتي انسان په توګه وآوری نه کوم شکایت او ګیله ... ما د همغه اتلس کلنې څخه ځانته ویلې چې طاها ته پلار نلرې (په دی خبره مې د بابا د غوسي څخه د غاښونو چیچلو غږ مې واوریدل خو چوپ نشوم او ومې ویل: زه چې د مرګ حال ته هم ورسیږم بیا هم تاسو ته د زنګ وهلو او مرستي غوښتلو امید نلرم او دا کار تاسو زما سره کړی اوس کاش یوازی خبره ستاسو وایې ... ستاسو زما څخه مخ ګرځول او کرکه کول ټول خپل او خپلوانو ته دا اجازه ورکړی ترڅو زما پسي هر بول چې زړه یې غواړی خبری وکړی ..

ketabton.com - The Digital Library

لومړۍ کې نه پوهیدم چې ولې دوی داسې چلند زما
سره کوی خو اوس پوهیږم اوس درک کوم یې اوس
راته د ورځ پشان روښانه ده چې ذوالقرنین کاکا ولې
څو کال مخکې وویل طاهر ته فرشته ورکوم خو طاها
ته نه ...

د بابا تروش تندی ته مې وکتل او په ترخه مسکا مې
وویل: ځکه زه د هغوی په نظر ستاسو زوی نه یم( په
دی خبره مې بابا خوله خلاصه کړه چې کوم څه ووایی
خو ما اجازه ورنکړل او ومې ویل: البته زه په دی خبره
شکر ادا کوم چې هغوی ما ته "نه" وویل خو دا چې په
دی دلیل یې "نه" وویل دا راته زور راکوی نه پوهیدل
... هم کله ناکله ډیر ښه وی اوس چې د څو کلونو
مخکې خپل د خپلوانو کارونو ته فکر کوم نو ځان راته
بیحد حقیر ښکاری دا چې د بشیر ماما کور ته زه او
طاهر تلو او هغوی به تل زما او د هغه سره د مور او
میری رفتار کاوه او زه څومره ساده وم چې فکر مې

ketabton.com - The Digital Library

کاوه ګناه به شاید زما وی چې دوی داسې راسره کوی؟!

پوسخند مې وواهه او د بابا سترګو ته چې په عجیب ډول یې زما خواته راکتل ومې ویل: دا اوس چې دومره کسان دلته راغلې یو هم زما د لیدلو لپاره نه وه راغلې چې مثلاً ما ته ورخطا وه او زما د حال پوښتنه یې وکړل نه .. هغوی راغلې وه چې یو خبره پیدا کړی او سبا ورځ په همغه خبری باندی پر ما طعنه او ریشخند ووهې او د دی ټولو اصلې سبب تاسو یاست .. نو ځکه زړه مې هېڅکله درسره نه صاف کیږی خو اوس راته نور مهم نه ده زه غوارم یو نوی ژوند پیل کړم ستاسو ټولو څخه لری ...

په دی خبره مې بابا په تلوار وویل: بیا غواړی چیرته لاړ شې؟ غواړی بیا خپل د ښځې او ماشوم لاس ونیسي او په یوه شپه غیب شې؟

ketabton.com - The Digital Library

- زره خو مې ډېر غواړې چې داسې کار وکړم خو نه، د ذوالفقار پخاطر دا ځل داسې نه ځم خو خپل ټول کوښښ کوم ستاسو او ستاسو د قوم او قبیلې سره تر اخرې حد قطع رابطه وکړم (په دې خبره مې بابا په تروش تندې راوکتل چې ما وویل: نغواړم کوم توهین او سپکاوې چې ما کلونه تجربه کړو زما زوې یې تجربه کړې، تاسو ته شاید زه مهم نه وم خو ما ته زما زوې مهم دی، زه غواړم هغه په یو امن او سالم فضا کې غټ شې، خو دا امن او سالم فضا ستاسو د قوم د سایې لاندې نه کیږې ...

د دې خبرو وروسته د څو شیبو لپاره چوپ شوم ترڅو بابا کوم څه ووایې خو هغه بغیر د څه ویلو په تروش تندې لاندې غالۍ ته دوه سترګې نیولې وه او لګیا وو د غالې د سره یې کوچني شیان راټولو، د بابا دا خاصیت ما ته هم راغلی وو زه چې هم تل په ډېر ژور فکر کې تللی وایې نو دا کار مې کاوه خپل د شاوخوا د غالۍ له سر مې میده،میده شیان راټولو ...

ketabton.com - The Digital Library

بابا چې مې داسې په فکر کې ډوب ولید نو ځای کی
څملیدم، ما خپل ټول کوښښ وکړو چې بیحد
احساساتي خبری ونکړم او لکه چی کامیاب شوم؟! ما
زیاتر منطقي خبری وکړل او دا هم د ماموریت له برکته
وو ماموریت کې ما زده کړل چې خپل احساسات څنګه
کنټرول کړم، که نن پخواني طاها وایې نو اوس مې
دری ساعت اخوا دیخوا خبری او کیسي کول او اخری
کې مې خپل د خبری مطلب هم سم نشو رسولای او
هسی د بابا سره می جنګ کاوه

خو اوس ما خپل د خبری مفهوم ورسو او په دی کار
سخت خوشحال وم بلاخره ما بابا پوه کړو چې هغه
څه غلطې کړی وه؟! د بابا په آواز له فکرونو راووتلم،
همغه څملیدلې حال کې مې وروکتل چې بابا ژوره ساه
واخیسته او ویې ویل: یاد مې دی ... غرمه وه دوکان
کې وم چې طاهر راغلو په هغه ورځ ستاسو د سالانه
امتحاناتو نتیجه راتلل ما ورځخه ستا پوښتنه وکړل او
هغه په خوشحالۍ وویل طاها دریم نمره شوی ...

ketabton.com - The Digital Library

بابا په زیر نظر راوکتل بیایې کرار وخندل او ویې ویل: کله چې ویې ویل دریم نمره شوی یې نو ځان سره می وویل لکه چې وهلو دی کار وکړو وګوره هلک تکړه شو اوس دریم نمره شوی؟! نو هغه شپه ستا د کامیابي په خوشحالۍ کې مې کور ته امروت راوړل څکه تا بیحد خوښیدل .. خو ( بابا په زیر نظر راوکتل او ویې ویل: خو څنګه چې زه نه وم خبر چې ته لږم چیچلي وی او د هغه له لاسه امتحان دی سم نه دی ورکړی او ناکام شوی یې،همغسې ته هم خبر نشوی چې هغه امروت او په سهار یی سلګون کوم چې مور دی درکړو هغه ستا د دری نمره توب شیرني وه ...

د بابا په دی خبره حیران شوم؟! باور مې نه کیدو بابا ... نه امکان نلری ... خو دا خبره یې رښتیا وه، یاد مې دی د رښتیا هم هغه شپه بابا امروت راوړی وه، او د هغه ورځ په سهار ادی ماته سلګون هم راکړو وو او ویل وه چې دا دی پلار درکړی .. خو ویې نه ویل چې ستا د دریم نمره توب په شیرنی کې ...

ketabton.com - The Digital Library

بابا- زه منم چې ما پر تا سختي کړې خو هغه هم دلیل درلود، ته د طاهر په پرتله ډېر ساده او بیحد احساساتي وې او اوس هم یې، نو ځکه ما د طاهر په پرتله پر تا ډیر سختی کول ترڅو کوم څوک دی غلطي لارې ته ونباسي خو اوس چې فکر کوم نو ما غلط طریقه خپل کړې وه ... ما باید د سختي لځایه د نرمۍ څخه کار اخیستي وایې باید د وهلو لځایه د خبرو له لارې مې پوه کړې وایې خو انسان واجب الخطا دی ..

دلته زه غلط شوم خو دا چې ته فکر کوی ما ستا څخه کرکه کیږې ... نو دا فکر دی غلط دی بیحد هم غلط دی .. او هو دا فکر دی هم غلط دی چې ګمان کوی ذوالقرنین په دی خاطر تاته فرشته درنکړل چی هغه ته زما د زوی په صفت نه مني ... ته زما زوی یې او دا هغه نسبت دی چې هېڅوک یې نشي بدلولې هېڅوک ... بشیر او د هغه د کورنۍ په اړه کوم څه نه وایم شاید د جاهلیت هغوي ستا سره ښه رفتار نه وی کړې

ketabton.com - The Digital Library

خو بیا هم دا معنا نلری چی ته دی تر دی حد ورباندی حساس شې او کینه په زړه کې ورځخه ونیسي ..

او پاتي شول زما کارونه نو زما کارونه ته په کرکي مه تعبیر کوه ستا مور ...

بابا ژوره ساه واخیسته لکه چې د دی موضوع په اړه خبری کول ورته ګران وه؟
بابا- که یاد دی وی نو زه ستا د واده کولو سره مخالف وم؟ پوهیږی ولې؟

د نه په انداز مې سر وخوځاوه چی بابا وویل: ضیالحق .. هغه ښه سړی دی خو ځینې کارونه یې زما هېڅ نه خوښیږی، او د هغه د کارونو څخه لا بتر دا چې ما نغوښتل زما کار پر تا وشي.

په ګنګس انداز می وروکتل نه پوهیدم د بابا مطلب د دی خبری څخه څه دی چې نه مې غوښتل زما کار پر تا

ketabton.com - The Digital Library

وشي؟ کوم کار پر هغه شوی وو چې هغه نه غوښتل پر ما وشي؟

بابا- ستا د ماما کورنۍ ته ارثًا دا خاصیت رسیدلې چې د هغوی نسل ډیر ادامه نلری؟! شاید درته عجیب وی خو وګوره ستا ماما یوازی دی، مطلب یوازی یوه خور یې درلود نور نه کوم ورور او خور نلری حتا کاکا یا عمه لا نلری، همداسې د دوي ټول نسل دی د یو دوه څخه ډیر اولادونه او بچیان یې نه پاتې کیږی خپل ماما ته مګوره چی څلور پنځه لورګاني لری د هغوی ژوند ته وګوره د هغه یوه لور لا دریم ماشوم نلری ډېر،ډېر اولاد راوړی دوه دانې ..

له بلخوا دوی ذاتًا د ګوردی مرض لری دا یوازی ستا د ښځې ستونزه نه ده د ضیالحق ټول لورګاني او حتا ستا مور ... هغې هم د ګوردي تکلیف درلود لومړۍ کلونو کې زه نه پوهیدم چې څه ستونزه لرې چې ورځ تر بلې طبعیت یې خرابیږی؟ تل به مریضه وه تر دی

ketabton.com - The Digital Library

چې یوه ورځ خبر شوم د ګوردی ستونزه لری هغه هم څه خبریدل وه! کله چې خبر شوم نو کار تر کار تېر وو یوه ګورده یې کامل خرابه شوی وه هغه هم داسې حال کې چې ته د یې د څلور میاشتو په نس وی.

بابا ژوره ساه واخیسته او څو شیبې چوپ شو .. زه هک حیران د هغه خولې ته زیر وم باور مې نه کیدو کوم خبری چی مې اوریدلی وه هغه مې نشو هضم کولای ...

بابا- ډاکتر ویل ماشوم راوړل امکان نلری، ویل یې یوه ګورده یې کامل خرابه او دویم یې بیحد کمزوری ده ویل ماشوم ضایع کړی خو ... خو زما زړه ونشو ... ته جوړ ماشوم وی زړه دی دررزا درلود حرکت دی کاوه، ژوندی موجود وی ما د مولوی څخه مشوره وغوښتل هغه ویل دا قتل په حساب راځي .. ځکه ماشوم جوړ دی او د مور د مرګ خطر هم سل سلنه نه دی ډېر خلک په یو ګوردی ژوند کولای شي ..

ketabton.com - The Digital Library

مولا راته وویل دا ماشوم نرۍ ته راوړی د هغه وروسته خپل د ښځۍ سم صحیح علاج وکړه او بل ماشوم تر هغه وخت مه راوړی ترڅو چې ښځه دی سم صحیح ښه شوی نه وی، ما هم دا خبره ومنل خو د پیدایښت وخت کې ستا مور مړه شول، ضیالحق په دی خبره تراوسه زما سره کینه په زړه کې لری، هغه ویل ماشوم ضایع کړی او زما د خور علاج وکړه ..

باور مې نه راتلو فکر مې کاوه کوم خبری چې مې اوریدلې ټول هسې خوب او خیال دی؟! یا هم حتماً خوب وینم؟ خو د بابا جدی څهری ډاډمن کولم چی کوم خوب نه وینم او دا ټول رښتیا دی ...

بابا- بس نو د قسمت خبری وه البته تازه د ذوالفقار د خولۍ خبر شوم چي چندان پوره د قسمت خبره هم نه وه او زما د مور تعویذاتو هم پکې لاس درلود .. خو مرګ او ژوند د خدای لاس کیدی دا ټول یو بهانه د هغې د مرګ وه خدای هغې ته همدومره عمر لیکلې وو،

ketabton.com - The Digital Library

د هغې په مرګ هر چا يو خبره وکړل يو ويل د ماشوم له لاسه مړه شول،بل ويل د ګوردی له لاسه او بل بيا وايې د ادی د تعويذاتو له لاسه، خو ... زه ... زه بيا ځان د ټولو څخه ډېر ملامت احساس کوم ..

بابا په درووند نظر راوکتل او ويې ويل: زه په دی پښيمانه نه يم چې ته مې وساتلې، خو خپل وجدان ته کله ناکله شرمنده يم او فکر کوم ما هغه ووژل؟! کله چې تاته ګورم نو هغه ياد ته راځې ستا څهره،خبری حتا ځينې اخلاق دی لا خپل مور ته تللې نو ځکه د ډېر کتلو توان درته نلرم ... زما مخ ګرځول ستا څخه د کرکې نه دی ... زه خپل ځانته شرمنده يم ستا په هر ځل ليدو هغه ياد ته راځې او فکر کوم ما ظلم کړی ...

نو هيڅکله دا فکر مکوه چې زه ستا څخه کرکه لرم نه ... هيڅکله هم نه ايا يو پلار خپل د اولاد څخه کوم چې د ده د ويني او غوښي څخه جوړ دی کرکه کولای

ketabton.com - The Digital Library

شي؟ هغه هم داسې اولاد چې د میني اخری نښه یې وی؟

بابا دا خبره وکړل او له کوټي ووت، خو د هغه یوه،یوه خبره زما ذهن کې ګرځیدل او د ټولو څخه زیات اخری خبره یی " هغه هم داسې اولاد چی ستا د میني اخری نښه وی؟" زه د بابا د میني پاتي اخری نښه وم؟ اوس پوهیدم چې زما په لیدو د بابا تندی ولې تل تروش کیږی؟ اوس پوهیدم چې بابا ولې زما او د اقرا د واده سره مخالف وو؟ هغه دی خبرو ته فکر کړی وو او غوښتل یې خپل په ګمان ما د راروان مصیبت څخه وساتي؟هغه غوښتل پر ما هغه کار ونشي کوم چې پر ده شوی وو ... همغه کار چې زما د غوږ د بیخ څخه تېر شوو؟!

که هغه ماشوم کوم چې اقرا ضایع کړو که هغه د یو میاشتي نه وایې او د څلور،پنځه میاشتو وایې او زړه یې درلود او ژوندی ماشوم وایې نه یو ټوټه غوښه نو

ketabton.com - The Digital Library

ما به څه کول؟ که هغه پخپل نه وایې ضایع شوی ایا ما کولای شو ډاکټر ته ووایم چې لری کړی؟ که د یوی میاشتي وایې پریکړه اسانه وه ځکه ماشوم جوړ نه وو؟! هغه یوازی یو ټوټه غوښه وه، خو که جوړ ماشوم وايي بیا؟ ... شاید هغه وخت ما هم د بابا پشان پریکړه کړی وایې؟!

په دی فکر سر کې مې بنګهاری شو خدایه شکر دی ... شکر دی چې زه دی د دومره لوی مصیبت څخه چې ما یې فکر لا نه وو کړی وساتلم، د بابا د خبرو اوریدلو وروسته فکر مې کاوه یو لوی خیرات باید وکړم چې اقرا پخپل هغه ماشوم ضایع کړو او خبره تر څو میاشتو او نور شیانو ونه رسیدل کنه شک مې نه درلود چې د بابا کار ما تکرار کاوه .. او ... او هغه وخت ضرور د هغه ماشوم څخه ما یو دویم طاها جوړو؟!

***

@Shuhab09

ketabton.com - The Digital Library

دوه هفتي کيدل چې د ذوالفقار په کور کې مې لنګر اچولې وو، که څه هم بابا ډېر ټينګار وکړو چې د هغه کور ته لاړشم خو ما ونه منل، د هغه خبرو وروسته چې دواړو يو بل ته وکړل د بابا څخه مې تر ډېره حده هغه پخوانې کينه او زړه نيول ختم شوی وه خو بيا هم دومره نه چې د هغه کور ته لاړشم، د بابا د کور څخه د ذوالفقار کور کې لږ راحت وم، يوازی لــږ که ذوالفقار اجازه راکړی وايې نو د هغه د کور څخه هم تښتيدلم، ذوالفقار بيچاره خپل ټول کوښښ کاوه چې زه د هغه کور کې راحت احساس وکړم خو ما ته ځان ... بيحد بد ښکاريده

ذوالفقار د دی لپاره چې زه مثلاً پعذاب نشم او د نفس تنګې احساس ونکړم ميلمه خانه کې کوم چې لاره يې بيخی د کور څخه جلا وه او د حويلی دی بلخوا وه هلته خپل د ښځې سره ويده کيده او دا ټول کور يې تقريباً ماته راخوشې کړی وو ترڅو راحت اوسيږم،خو بيا هم ما ښه احساس نه درلود او زړه مې غوښتل ژر

ketabton.com - The Digital Library

تر ژره خپل کور ته لاړ شم، دا دوه هفتي پر ما سم د دوه قرنو پشان تېر شول ..

لومړۍ او د ټولو څخه مهم دلیل یې دا وو چې د عزیزی، الفا، بوډا او جنرال دوی څخه بیخبر وم، البته د بوډا پسي مې زنګ وواهه د هغه نمبر مې د حفظ څخه زده کړی وه خپل پر هغه زوړکې موبایل کوم چې بوډا د کالو بکس کې راستولې وو ورپسې مې زنګ وواهه لومړۍ کې یې ځواب رانکړو خو کله چې ورته مسج مې واستو او ومې ویل چې زه یم طاها! نو ځواب یې راکړو خو بیحد رسمي او یخ؟ د یخ څخه مې مطلب داسې ځواب لکه یو بیګانه کس سره چې خبری کوی او بیخي نه پیژني؟ او دا لهجه یې هغه وخت بیحد رسمي او تقریبا بی ادبانه شول کله چې ورڅخه د عزیزی او الفا پوښتنه می وکړل؟!

لومړۍ مې ګمان وکړو چې شاید نغواړې د موبایل تر شا د دی موضوع په اړه خبری وکړې؟ نو ځکه ورته

ketabton.com - The Digital Library

ومې ویل بل هفتي ته به د حوزی خواته درشم او هلته به د دی موضوع په اړه خبری وکړو؟ زما په دی خبره بوډا لاپسي اور واخیست او دا ځل تقریبا په غوسه یې وویل: زما په خبره دی سر خلاصیږی او کنه؟ وایم ته نور دی ماموریت کې نه یې نو بهتره به همدا وی چې نور د دی موضوع څخه لری اوسیږی او دا موضوع لیاده وباسې،که ډیر کنجکاو یی دهغوي په اړه نو واوره الفا او عزیزی دواړه ژوندی او زندان کیدی ...

د هغه په دی ډول لهجه بیحد بد احساس مې پیدا کړو هغه داسې زما سره رفتار وکړو لکه نور ما ته محتاج نه دی نو ارزښت هم نه راکوی؟! دا کار یې بیحد پر ما بد ولګیده ما غوښتل ورته د عزیزی اخری خبری وکړم او د هغه طلاو په اړه ووایم زما په نظر هغه طلا د حکومت او دولت حق وو خو د بوډا په دی ډول رفتار خبره مې خوله کې پاتي شول هغه د زنګ قطع کولو مخکی بار،بار یوه خبره تکرار کول" طاها ستا نوم نور د دی ماموریت څخه خط وهل شوی نو نور ونه وینم

ketabton.com - The Digital Library

چې دیخوا راشې بیخی د جنرال د لیدلو لپاره هم حوزی خواته د غلطې څخه رانشی مونږ خبر یو چې ته ښه یی بس خدای دی تل ښه لره نور مونږ ته مزاحمت مکوه"

دا یې وویل او په بیحد حیرت کې زنګ قطع او سم دلاسه یې زه بلاک کړم؟! یعنې باور مې نه کیدو دومره ژر یې رنګ بدل کړو؟ تر پرون یې طاها جان،طاهاجان له خولی نه ولید، خو اوس چی کار یې وشو او ضرورت یې خلاص شو سم په لغته یې وشړلم؟!
دومره دا کار یې زور راکړی وو چې زړه مې غوښتل هغه طلا یوازی ځان راوباسم او هیچا ته یې په اړه خبر ورنکړم، خو نه کیدل هغه کم طلا نه وه .. دومره ډیر وه چی ما یوازی ځان نشو راویستلې که بل فرض راویستلې مې هم وایې چیرته  یا پر چا مې خرڅول؟

ما ته هېڅوک نه وو معلوم ما ګمان کاوه چې د هغه طلاو د ځای په اړه به بوډا یا جنرال دویته خبر ورکړم

ketabton.com - The Digital Library

او هغوی به هم د قدرداني په پار ما ته یوه حصه د طلاو راکړې؟ خو د بوډا خبرو ګنګس کړم دا دوه هفتي یوازیني فکر مې د همدی طلا خواته وو چې څنګه یې راوباسم؟ او ایا دولت ته خبر ورکړم او کنه؟ البته کله ناکله فکر مې د عزیزی خواته هم تلو خو ډیر ژر د دی خبری په یاد راوړلو چې بوډا وویل دواړه ژوندی دی خپل زړه ته مې تسلی ورکول،هغه یو مجرم او خلافکار دی، هغه د مافیا کس دی تر اوسه چې ژوندی دی یعنې د شکر ځای لری د دی وروسته چې هر کار ورسره کیږی هغه په ما نه دی مربوط ..

د دی دوه هفتو یو بل مصیبت د شموئیل نه لیدل او د هغه څخه بتر دا چی دا دوه هفتو کې ما یو سم د زړه د خلاص خوب ونه کړو، یعنې همدا چی سترګي به مې وتړل نو بد خوب به می لیده هغه هم کوم عادی او نرمال بد خوب نه .. داسې خوب مې لیدلو ته وا ربښتیا دی؟ سم د زبیر خبره HD خوب مې لیده او ټول هم اخر کې داسی خلاصیدل چی زه یې تر مرګ ورلم

ketabton.com - The Digital Library

لومړۍ شپه کی مې خپل د څو کالو مخکې پخوانې خوب ولید داسې چی د راویښ کیدو درې ساعت وروسته مې لا ژړل .. ذوالفقار مې خوب کی ولید همدغه کور همدغه حمام او ذوالفقار پکې په وینو لړلی پروت وو .. دا خوب ما څو کاله مخکې لیدلی وو کوم چی شموئیل راویښ کړم او راته ویې ویل چی خوب دې لیده او پیریانو پعذابولې همغه خوب مې په اول شپه چې د ذوالفقار کور کې ویده شوم ومې لید ...

او داسې په هغه خوب کې وېرېدلې وم چې اقرا راویښ کړم او ما هم د راویښ کیدلو سره سم داسې چغه وهلې وه چی بیچاره ذوالفقار د میلمه خانې څخه په نیمه شپه په منډه ځان تر ما راورسو او زه درې ساعت لکه لیونیانو پشان هغه ته په کتو وم او له وېرې لړزیدم بیحد خراب خوب وو په دویمه شپه بیا همغه خوب مې ولید خو په یو څه توپیر .. په دریم شپه د هغه څخه لا جالب خوب مې ولید دا ځل هغه ځای کې

ketabton.com - The Digital Library

وم کوم ځای کې چې عزیزی مرمۍ خوړلی وه او ما راکش کاوه ..

خو فرق یې دا وو چې دا ځل مرمۍ خوړلې کس عزیزی نه وو؟ بلکې ذوالفقار وو .. نور ټول پیښي همغسې وه الفا راځې او وهل او خبری خو یوازی فرق یی دا وو چې د عزیزی لځایه ذوالفقار راسره وی ..دوه هفتي په پرلپسی توګه په عجیب انداز خو په یو ټاکلې پای مې دا خوبونه ولیدل د ټولو خوبونو پای یو ډول وو ذوالفقار پکې مړ کیږی او زه ورباندی ژاړم ... دا کار زه تر جنون ورلم هر ځل به چی له خوب راپاسیدم نو د وېری څخه لړزیدم نه پوهیدم چی څه روان دی؟ او ولی زه بار،بار یو ډول خوب وینم؟

هغه هم داسې یو وحشتناک خوب؟ او ولې زما په هر خوب کی ذوالفقار دی؟ او ولې مړ کیږی؟ دا کار سم رواني مرضتیا راچولې وه داسې چې د وېرې څخه مې یو دقه لا سترګي نشو ترلې زړه کې مې زر رقم

ketabton.com - The Digital Library

خيراتونه او نظرونه منلې وه چې خدای دې شموئيل يو ځل راسره مخ کړي، پوهيدم چې دا خوبونه کوم عادي خوبونه نه دي او ضرور دي شاته بيا د پيريانو لاس دی، خو دا چې ولې ذوالفقار رانيولې دا راته عجيب وه ...

***

نن دريم هفته وه چې د ذوالفقار کور کې وم او نن د نور ورځو په پر تله طبعيت مې ډير ښه وو د اوږې د زخم کوک مې نن سهار لرې کړی وو او د هغه د لرې کولو سره سم مې يو زدنې حمام کړی وو د حمام وروسته فکر مې کاوه بدن مې سپک اوراحت شوی، د هينداری مخ کې ولاړ وو او خپل ځانته مې کتل دا درې هفتو ورزش نه کولو لږ باډی راخراب کړی وه خو دومره نه، عزيزي شايد خپل په ژوند کې ډېر بد کارونه کړی وي خو ما ته چې په هغه څو مياشتو کې ورسره وم تل خير يې رارسيدلې وو لنډ نمونه يې هم همدا زما .. ورزش ته راوړل وه

ketabton.com - The Digital Library

په دی کار یې زه ورځخه د زړه له تل منندوی وم او دروغ څه ووایم بیحد مې زړه غوښتل که نور نه ویې د یو ځل لپاره هم که کیږی د نږدې وګورم! خو پوهیدم چې امکان نلری د بوډا د خبرو مخکې شاید یو امید مې درلود خو اوس پوهیدم چې ناممکن کار دی د هغه لیدنه ...

ذوالفقار- په کوم فکرونو کې غرق یې؟

- ها؟

ذوالفقار داسې حال کې چې د دهلیز په نالې کښیناست ویې ویل: درې ساعت کیږی هینداره کې ځانته ګوری د څه په اړه دی فکر کاوه؟

- ها ... هغه یادوی .. هغه ..هیڅ.. هسې فکر مې کاوه څنې راسره خوند کوی نو خپل ویښتیان به پرېږدم وګوره اوس هم ویښتیان مې ډیر شوی ..

زما په دی خبره ذوالفقار یو نیم نظر راوچو او ویې ویل: هوم، خو زه فکر کوم سم معتاد معلومیږی

ketabton.com - The Digital Library

ویښتیان چې دی ډیر شئ مخ دی دومره کک ورسره ښکاری داسې لکه چې ناروغ یې؟!

- رښتیا؟ یعنی ستا په نظر بد راسره ښکاری؟

ذوالققار- اهوم.

- نو سمده نه یې پریږدم ماذدیګر ځم سلماني ته او کموم یې.

ذوالفقار- عجیب ده!

داسې حال کې چې د ذوالفقار مخامخ نالې باندی کښسناستلم ومې ویل: څه عجیب ده؟

ذوالفقار- دا چې تا زما خبره ومنل.

پخندا مې وویل: زه تل ستا خبره منم.

ذوالفقار بد،بد راوکتل او ویې ویل: هو بیحد ډېر ...

د هغه په دی ډول ناراضه لهجه باندی مې خندا لاپسي زیاته شوه، چې زما د خندا په غږ اقرا او د ذوالفقار ښځه چې آشپزخانه کې موښتي وه زما په غږ سرونه

ketabton.com - The Digital Library

يې دهليز خواته راښکاره کړل چې څه خبره ده چې زه
داسې خاندم؟

ذوالفقار- نن ښه ښکارې؟
- هو، نن فکر کوم بيحد ښه يم، دا حمام کولو لکه چې
معجزه وکړل؟ فکر کوم بدن مې بيحد سپک او راحت
دی.
ذوالفقار- اهوم، بيا هم لږ پام ساته د سينې هډوکي دی
سم جوش نه دی خوړلي.

د ذوالفقار په دی خبره خپل په سينه مې لاس کېخود د
رښتيا هم اوس هم لږلږ درد يې درلود يعنې د مرمۍ
ټپ ښه شو خو د هغه پدرلعنت لغتې ښه نشول، اخ
کاش چې وس مې رسيده او هغه کس مې راګير کړې
وايې که نور نه وايې خپل د هغه خوړلو لغتو بدل خو
مې ورڅخه اخيستې وايې ...

- ذوالفقار!

ketabton.com - The Digital Library

زما په غږ ذوالفقار داسې حال کې چې سر يې ښکته وو او خپل موبايل کې لګيا وو يو چا ته يې مسج کاوه د شونډي لاندې کرار "هوم" کړل چې ما په هيجان ورځخه وپوښتل: د طلاو قيمت بازار کې اوس څومره دی؟

زما په دی خبره ذوالفقار د مسج استولو حال کې نيم نظر د سترګو له کونج راوچو او بيا بيرته خپل په موبايل اخته شو او ويې ويل: ولې پوښتنه کوی؟ غواړی د طلاو کاروبار شروع کړی؟

په شيطانه خندا مې وويل: هو، شايد.
ذوالفقار دا ځل کامل راوګتل او ويې ويل: خيرت خو دی؟ نن يو څه بيحد خوشحال ښکارې، خوب کيدی کوم د طلاو کانِ ليدلي که څنګه؟ چې اوس په ويښه ورته چرتونه وهې؟

د ذوالفقار په دی خبره بيا مې د زړه له تل وخندل او ومې ويل: همداسي فکر وکړه، اوس ووايه قيمت يې

ketabton.com - The Digital Library

اوس وخت بازار کې ځومره دی؟ او ایا کوم ځوک پیژني چې د طلاو کاروبار وکړي؟

زما په دی خبره ذوالفقار خپل یوه وریځ پورته واچول موبایل یې هم جیب ته کړو او ویې ویل: د رښتیا غواړې د طلاو کاروبار پیل کړې؟
- کاروبار خو نه، یعنې یوازی غوارم په قیمت یې پوه شم.
ذوالفقار- په څه خاطر؟
- هغه زما یو ملګری دی هغه راته ویل د طلاو کاروبار ډېر فایده لری نو ما ویل پوښتنه وکړم چې څنګه چل دی؟

ذوالفقار- کوم ملګری دی؟
- ته یې نه پیژني.
ذوالفقار- نو بد یې کړي .. ضرورت نشته ته ماته د طلاو کاروبار شروع کړې یو دوه هفتي ارام وکړه د هغه وروسته راشه زما شرکت ته ..

ketabton.com - The Digital Library

- زه ستا شرکت کې څه وکړم؟

ذوالفقار- کار وکړه.

- کار؟خو زه او زبیر خو دوکانـ ...

لا خبره مې نه وه پوره کړې چې ذوالفقار وویل: دوکان نشته، زبیر هم دا څو میاشتې کیږي چې زما سره کار کوي.

د ذوالفقار په دې خبره سترګې مې له حیرت راووتل او ومې ویل: ولې؟ زبیر ولې ستا سره کار کوي؟ دوکان څه شو؟

ذوالفقار په تروش تندي راوکتل او ویې ویل: تا چې کوم دوه لک افغانۍ د دوکان څخه اخیستي وه زبیر هغه بیرته پوره نشو کړې او مجبور شو دوکان خرڅ کړي.

د ذوالفقار په دې خبره دا ځل رسماً سترګي مې له کاسي راووتل او ومې ویل: خو ما د هغه په بدل کې

ketabton.com - The Digital Library

خپل د کور حواله کیخودلې وه؟! هغه کور که کم تر کم دوه نیم، درې لک افغانۍ ضرور خرخیده ...؟

ذوالفقار لکه چې د راپیښ شوی بحث څخه غوسه شوی وو چې ویې ویل: زبیر ویل هغه کور د طاها دی او زه یی نه خرخوم، ما ورته وویل که کور نه خرخوی نو زه درته دوه لک افغانۍ د طاها لځایه درکوم خو دوکان مه خرخوه، خو هغه نه منل اخر کی دوکان خرخ کړو(ذوالفقار نیم نظر زما خواته راوچو او په همغه تروش تندی وویل: ستا برخه پیسي د دوکان خرخولو وروسته ما ته راکړل اوس هم زما سره دی.

باور مې نه کیدو زبیر زما له لاسه مجبور شوی وو دوکان خرخ کړي، زه څومره بیعقل یم باید د دی خبری فکر می کړی وایې زبیر دومره غیرت او شرافت درلود چې زما کور خرڅ نکړی زبیر د ملګرتیا په دی خبرو کې تر اخری حد وفادار وو یو دلیل چې زبیر راباندی بیحد ګران وو همدا و، زما له لاسه پر هغه څه کارونه چې نه

ketabton.com - The Digital Library

وو شوی او لا هم خندل یې؟! یعنې که د ده له لاسه پر ما داسې کارونه شوي وایې ولاکه مې ورته کتلې لا وایې خندل او خبرې کول خو لري ... زما په خاموش کیدو ذوالفقار وویل: ته هم سر له بل هفتي شرکت ته راشه، د پخوا پشان ته، زه او زبیر درې واړه یو ځای یو شرکت کې کار کوو ..

د ذوالفقار خواته مې وکتل هغه دا خبره په بیحد خوشحالۍ وکړل، لکه چې د دوکان په خرڅ کولو هغه خوشحال وو؟

- زبیر څنګه ومنل چې ستا سره کار وکړی؟

ذوالفقار په ګواښونکې انداز وویل: د انسان پشان، لکه څنګه چې اوس ته یې د انسان پشان منی ...

ما نه غوښتل د ذوالفقار سره کار وکړم،اوس خو بیخي می زړه نه غوښت ما څه کم او زیات اتیا لک نغد افغانۍ په بانک کې درلود او څه کم او زیات د میلونو افغانیو په بیه مې طلا درلود؟ هو طلا هغه طلا اوس

ketabton.com - The Digital Library

زما وه الفا او عزيزی خو زندان کې وه او خدای خبر که له هغه ځایه ژوندی راغلی وایې پولیسانو هم د طلا په اړه معلومات نه درلود البته که خبر شوی هم وایې چې د هغه معدن طلا د الفا ښخه عزیزی غلا کړی وه بیا هم د هغه ځای نشو پیدا کولای!

ځکه زه سل په سل ډاډمن وم چې عزیزی پولیسانو ته د طلاو په اړه نه وایې، نو مطلب هغه طلا اوس یوازی او یوازی زما ده؟! نو د دی دومره پیسو باوجود زه لیونی یم لاړشم د ذوالفقار سره شرکت کی کار وکړم؟ البته زه کار کوم خو د ذوالفقار سره نه ...

زما اراده وه یوازی ځان تجارت شروع کړم البته یوازی،یوازی هم نه .. اراده می وه د زبیر سره په ګډه یو تجارت پیل کړم ..

ذوالفقار- ها؟! څه وشو؟ ودی نه ویل راځې او کنه؟
- ها؟ چیرته؟
ذوالفقار څو شیبی په ځیر راوکتل د هغه وروسته یې

ketabton.com - The Digital Library

په تروش تندی وویل: شرکت ته د کار کولو لپاره راځې او کنه؟

ذوالفقار په داسی ګواښونکي انداز دا خبره وکړل چې ما ته خندا راغلل ما په یوه ورځ یا یوه میاشت کی نشو کولای خپل ټول پیسي له بانک راوباسم یا هم هغه طلا خرڅ کړم نو مجبور وم د ذوالفقار سره تر یو مودی کار وکړم او همغه جریان کی کرار،کرار د طلا راباسلو لپاره یو پلان جوړ کړم او همچنان د یو نوی تجارت شروع کولو لپاره د زبیر سره مشوره وکړم البته کولای می شو یو دروغ ووایم او زبیر هم د طلا راباسلو کی د ځان سره ملګری کړم؟ البته اوس خو نه کیدو باید یو څو میاشتي می صبر کړی وایې ترڅو اوضاع لږ ارام شوی واې بیا، په دی فکر د ذوالفقار منتظر نظر خواته مې وکتل او ومې ویل: زبیر که درغلې نو مجبور زه هم درشم.

ketabton.com - The Digital Library

زما په دی خبره د ذوالفقار تندی خلاص شو او پخندا یې وویل: که زه خبر وایې چې د زبیر په راتلو ته هم راځې ما به اول ورځ هغه راضي کړی وایې ...
د هغه په خبره مې پخندا وویل: څه وکړم د زبیر بغیر زما کار نه کیږی، هر چیرته چې هغه ځې مجبور زه هم ورپسی لاړشم.

په دی خبره مې ذوالفقار پوسخند وواهه او ویې ویل: هو ګورم چې څنګه د هغه پسي یې(د ذوالفقار د خبری طعنه مې واخیسته او پوه شوم چې مطلب یې زما هغه ځو میاشتو ناڅاپه ورک کیدلو او بیا بیخبر مثلاً عربستان ته د تلو وه، غوښتل مې کوم څه ووایم چې ذوالفقار اجازه رانکړل او ویې ویل: یوه پوښتنه درڅخه کوم طاها .. او غواړم چې رښتیا ځواب راکړی ...

د ذوالفقار په دی خبره په وېرېدلې انداز مې وروکتل ځان سره مې ویل هسې نه ذوالفقار شک کړی وی چې زه عربستان ته نه وم تللې او د پولیسانو سره مې کار

ketabton.com - The Digital Library

کاوه؟ ذوالفقار چې زما منتظر نظر ولید نو په تروش تندی وویل: ته چې څو میاشتې مخکې ناڅاپه خپل د ښځې او زوی سره غیب شوی رښتیا راته ووایه ایا زبیر ته دی ویلې وه؟ یعنې هغه ستا د ځایه خبر وو او کنه؟

د ذوالفقار په دی خبره مې یو هوسا ساه واخیسته او د هغه وروسته مې وخندل، ځکه هغه ورځ رایاد شول چې ذوالفقار زبیر رانیولې وو او قسمونه یې ورکول چې زما څخه خبر لری او کنه؟ او بیچاره زبیر قسمونه خوړل چې زما په اړه هېڅ معلومات نلری زما د خندا په لیدو د ذوالفقار تندی لاپسې تروش شو چې ما وویل: نه هغه هم نه وو خبر، مطلب هېڅوک نه وو خبر، تا هسې هغه بیچاره هغه ورځ رانیولې وو.

ذوالفقار په مشکوک انداز وپوښتل: هغه ورځ؟ کوم ورځ؟

پخندا مې وویل: همغه ورځ چې ما خپل کډه بیرته

ketabton.com - The Digital Library

راوړل.
ذوالفقار- ته له کوم خوا خبر شوی چې ما همغه ورځ د زبیر څخه ستا په اړه پوښتنه وکړل؟

- ځکه چې هغه ورځ زه هملته وم.
ذوالفقار په حیرت وویل: څه؟ ته چیرته وی؟ ته هغه ورځ هملته وی؟ نو ما ولی ونه لیدی؟
په خندا مې وویل: هو هملته وم خو تاسو یو بل رانیولې وه نو ماته مو فکر نشو.

زما په دی خبره ذوالفقار ناڅاپه غوسه شو او ویې ویل: یعني ته هلته وی او لیدل دی چې موږ څومره په اندیښنې کی یو خو راوړاندی نشوی؟

د ذوالفقار په داسی تنده لهجه خپل د کړی خبری څخه پښیمان شوم د دی لپاره چی د هغه غوسه راکم کړم په تلوار می وویل: هغه .... هغه ما ... ما غوښتل رامخکي شم او ... او خبری وکړم خو ... خو جرئت مې ونکړو .. هغه ورځ ته بیحد غوسه وی.

ketabton.com - The Digital Library

د دی خبری سره سم ذوالفقار خپل لځایه راپاسید او داسې حال کې چې زما خواته راتلو په ګواښونکي انداز يې وويل: نو ته زما د غوسي څخه هغه ورځ و وېرېدی؟

د هغه په داسې راولاړېدو په وېره باندی خپل ځای کې نيغ شوم، عجب بد مې وکړل کاش ګونګي شوی وایې خو دا خبره مې نه وایې ورته کړی.

ذوالفقار- که ته زما څخه وېرېدلې تا به داسې خپل په سر غول نخوړل، ته به داسې بیخبر د کور څخه نه تښتېدلې، که ته زما څخه وېرېدلې تا به قدم زما د اجازی بغیر نه اخیست، ووایه له قصد رامخکې نشوم ترڅو تاسو ښه وسوځیږی ..

په تلوار مې وويل: نه ... نه په قرآن داسی کوم خبره نه وه ..

ketabton.com - The Digital Library

ذوالفقار خپل لاس د وهلو په انداز راپورته کړو چې ما په تلوار وویل: وار ونکړې ذوالفقار په قران تر اوسه نه یم ښه شوی، د سینی هډوکی می تراوسه مات دی ګوره ....

داسې حال کې چې د ذوالفقار د وهلو څخه وېرېدلې وم خندا هم راتلل، زموږ دواړ په شور ماشور اقرا او د ذوالفقار ښځه له آشپزخاني راووتل او کله چې نظر یې د ذوالفقار په غوسه ناک حالت چې د وهلو لپاره زما سر ته ولاړ وو او ما چی زاری کول ولګید لومړۍ سترګی له حیرت راووتل خو ډیر ژر د ذوالفقار ښځې چغه کړل او یو څو ګام د ذوالفقار خواته رانږدی شول شاید غوښتل یې ذوالفقار زما څخه لری کړی؟ خو همدا چې ذوالفقار په دوزخی انداز وروکتل بیچاره د وېرې بیرته شاته لاړل یوازی غږ یې ما واورید چې په کراره یې وویل: دا څه کوی؟ خلک به څه وایې؟ مریض وراره دی خپل کور ته راوړی ترڅو ویې وهې؟

ketabton.com - The Digital Library

لکه چې د هغې خبرو کار وکړو چې ذوالفقار خپل سترګي له غوسي پټي کړل او داسې حال کې چې د شونډی لاندی استغفرالله ویل لږ زما څخه لری شو خو دومره ډیر نه همغسې زما مخ ته ودرید او داسی حال کې چی په غوسه یې خپل ګوته د ګواښ په انداز ماته خوځول ویې ویل: زما دی قسم وی طاها ... زما دی قسم وی ستا دا کار به زه لیاده ونباسم او ستا وهل به پر ما داسې فرض وی لکه د فرض لمونځ پشان ...

د ذوالفقار دی خبری ته مې خندا راغلل، یعني هغه داسې ښه وویل ستا وهل دی پر ما د فرض لمونځ پشان فرض وی چې ما ونشو کړی خپل خندا کنترول کړم زما پخندیدو ذوالفقار چې روان و خپل ځای کې کښیناست ناڅاپه بیرته راوګرځید د هغه په بیرته راګرځیدو دا ځل ما د اقرا وېرېدلی غږ واورید چې "وی" کړل او مطلب ما بیا خپل په بیځایه خندیدو کار خراب کړو؟

ketabton.com - The Digital Library

ذوالفقار په غوسه وویل: خاندی؟ یعنې زما حالت تاته خنده دار ښکاری؟

داسې حال کې چې کوښښ مې کاوه خپل خندا راکنټرول کړم په تلوار مې وویل: نه ... نه پخدای پر تا نه خاندم نه پوهیږم نن څه مرګ راشوی هسې خندا راځې ...

ذوالفقار په غوسه راوکتل خو د څه ویلو مخکې د کور دروازه وټکیدل او مجبور شو تر څو وګوری څوک دی؟ د هغه په تلو اقرا او د هغې خور په حیران نظر زما خواته راوکتل، شاید غوښتل یې زه ورته ووایم چې ولې ذوالفقار غوښتل ما ووهې؟ خو ما په همغه خندا چې په هېڅ ډول مې له خولې نه تلل اقرا ته وویل: یو پیاله چای خو خپل د خیر ماته راوړه.

اقرا کرار سمده وویل او روانه شول د هغې د تلو سره سم د ذوالفقار ښځه هم روانه شوه خو د تلو مخکې په مشکوک انداز زما خواته راوکتل، لکه چې فکر یې کاوه

ketabton.com - The Digital Library

زه لیوني شوی یم چې هسې خاندم؟ په دې فکر خپل د خولې کشک مې راټول کړو چې د دهلیز دروازه خلاصه شوه لومړۍ کس چې راننوت هغه استاذ او بیا وروسته طاهر وو؟! د استاذ په لیدو په اتومات توګه مې تندی تروش شو او د بابا خبره مې رایاد شول چې ویل یې ضیالحق ویل: کوچني ضایع کړه ... یعنې دی زما پر مرګ راضي شوی وو؟ یوازې د دې لپاره چې د ده د خور علاج وشې؟

خو د دې فکر پر کولو که خدای مکړه داسې موقعیت د طیبي سره مخ شې نو زه هغه وخت څه پریکړه کوم؟ په دې فکر غوسه مې لیاده ووتل که خدای مکړه د طیبي سره داسې کار وشې زه هم غوارم خور مې ژوندۍ پاتې شی د یو ماشوم لپاره خپل په خور خو سختي یا حتا مرګ نغوارم؟! په دې فکر د استاذ سره هغه پاتي زړه بدی مې هم لمینځه لاړل، دا چې زما ښځه یې دومره وخت دا خبرې پټ کړې وه لومړۍ کی په دې کار یې ورڅخه خفه وم خو اوس واقعاً ورڅخه

ketabton.com - The Digital Library

منندوی وم، زما په نظر کله ناکله په رښتیا نه خبریدل
او لکه یو بیعقل پشان ژوند کول هم ښه وی ...!

د استاذ سلام ته مې کرار علیک وویل او طاهر چې
رانوت د هغه سره مې بغل کشې وکړه،لومړی ورځ
چې د ذوالفقار کور ته راغلم نو هلته مې طاهر د یو څو
دقیقو لپاره ولید د هغه وروسته مې بیخې سم نه و
لیدلې البته وروسته ادی راته وویل چې ښځه یې
ماشوم لری خو طبعیت یی لږ خراب دی نو ډاکټر تر
لسو شپو شفخانه کې بستری کړی او طاهر بیچاره هم
د هغې سره وو، زما د لیدلو لپاره دا څو دقیقې راغلی
وو د بغل کشې وروسته مې پخندا طاهر ته وویل:
بیخې درڅخه د انځر ګل جوړ شوی طاهر خان صیب!؟
یعنې درې هفتې مخکې مې چې یو ځل لیدلې وی؟!
ښه خو یې؟!

طاهر په شرم وویل: زه بخښنه غواړم حق لری ګیله
وکړی، خو پخدای که د سر ګرولو وخت مې لا درلود.

ketabton.com - The Digital Library

لاس مې د هغه پر اوږه کېخود او داسې حال کې چې خپل ځنګ ته مې کښېنوی ومې ویل: ټوکي مې درسره کول دشمن دی شرمنده اوسیږه، څنګه ده ورینداره؟ ښه ده؟ پخپل څنګه یې؟ رنګ دی داسي خراب دی؟ خیرت خو دی؟

یعنې څومره چې زه فکر کوم زه شرمندوک او بې زبان یم، زما څخه زر چند طاهر عاجز او شرمندوک دی، یعنې زما حافظه کې داسی کوم ورځ یا نیټه نه راځې کوم کې چې طاهر د بابا د خبری خلاف کوم کار کړی وی، یا د بابا ورکړې شوی کار یې نه وی کړی؟ یا د بابا د یو کار خلاف یې ویلې وی زه دا کار نکوم ...؟! یعنې لنډ نمونه یی همدا واده کول یې لا د بابا پر خوښه وه، بابا ورته ویل زما د ملګری د لور سره واده وکړه د هم ویل سمده ..

که څه هم وروسته ځینو کسانو وویل طاهر پخپل په جنۍ مئین وو؟ خو زه فکر نکوم چې داسې کوم خبره

ketabton.com - The Digital Library

دی وی؟ د طاهر په غږ په ښود راغلم.

طاهر- شکر د خدای رحم دی ټول ښه دی، بس دا میاشت لږ پعذابونکي وه نور د خدای فضل دی، پخپل ښه یې؟ اوس خو ډیر درد نلری؟
- خدای دی درته ستونزی حل کړی، شکر دی زه هم ښه یم.

زموږ دواړو مجلس تازه ګرم شوی وو چې ذوالفقار په پوسخند وویل: موږ هم دلته یوو(د هغه په غږ موږ دواړو وروکتل چې ذوالفقار په همغه لهجه وویل: نظر نشې تاسو دواړه څنګه نمونه ورونه یاست؟ څومره ښه مجلس کوی، ما نه یادیږی ما دی تاریخ کې د ذوالقرنین یا لالا سره د دوه خبرو څخه ډیر مجلس کړی وی؟(بیا یې د طاهر خواته وکتل او ما ته په اشاره کولو یې هغه ته وویل: د ده غم مکوه زما او ستا څخه ډیر ښه دې څو شیبې مخکې نه وی چې وګوری خوله یې له خندا نه بندیدل ..

ketabton.com - The Digital Library

د ذوالفقار په دی خبره بیا مې خندا راغلل چې هغه
وویل: ها وګوره بیا یې نیش خلاص شو ...
په همغه خندا مې وویل: بده ده چې خاندم؟ یعنې پر
ما دی خندا نه پیرزو کیږی؟!
زما په دی خبره د ذوالفقار تندی تروش شو او ویې
ویل: خبره ده پیرزو او نا پیرزو نه ده .. ته پخپل ښه
پوهیږی چې ولې ستا د دی خندا څخه می بد راځې
...؟! نو د اوس لپاره خانده، خانده زما وار به هم
راورسیږی ... هغه متل دی وایي: هزاره هم خدا داره
...

د ذوالفقار په دی خبره دا ځل نه یوازی ما بلکې استاذ
او طاهر هم وخندل.
- شرط لګوم چې دا متل تا د زبیر څخه زده کړی ..

زما په دی خبره بلاخره د ذوالفقار د تندی ګونځې
خلاصې شول او ویخندل، د هغه پخندیدو ډاډمن شوم
چې د رښتیا هم هغه متل ذوالفقار د زبیر څخه زده
کړی و؟! ما ویل ذوالفقار داسې متلونه نه زده دا ډول

ketabton.com - The Digital Library

عجیب غریب الفاظ او متلونه یوازی او یوازی زبیر ویلې شې، لکه چې دا څو میاشتې زما نه موجودیت دوي بیحد یو دبل سره ملګری کړی وه؟ تر دی حد چې یو دبل خبری لا نقل قول کول؟ منم چې زما د تګ مخکې هم دوی یو د بل سره ملګری وه ...

خو لکه چې پر تګ می یو څه ډیر ملګری شوی وه؟ او عجیب وه ما د بخیلی احساس درلود ...! لومړی مې په ذوالفقار بخیلې راتلل فکر مې کاوه که ذوالفقار د زبیر سره ډیـــر یعنی بیحـــد ډیر که ملګری شې نو شاید زما څخه یې توجه کمه شې؟! که څه هم بیحد غلط او احمقانه فکر په نظر راتلو خو ما داسې احساس درلود او له بلخوا په زبیر مې هم بخیلې راتلل! هغه زما یوازینې ملګری وو .. نه مې غوښتل خپل صمیمي ملګری د ذوالفقار سره تقسیم کړم ...

د هغه ماشوم احساس مې درلود چې کور ته یې میلمانه راغلې وی او مور و پلار یې ورته وایې خپل د

ketabton.com - The Digital Library

لوبو شیان ورکړه د میلمنو ماشومانو ته ترخو ورسره لوبي وکړي؟! یعنې هغومره حساس حالت چې هم مجبور یې خپل د لوبي شیان ورکړی او هم دی زړه نغواړی؟خلاصه چې زه خپل په ګډوډ احساساتو کې ورک وم چې استاذ راباندی غږ کړل.

استاذ- ښه یې محمد طاها؟

ژر مې ځان راټول کړو او ومې ویل: شکر د خدای فضل دی خپله ښه یاست؟

استاذ- شکر چې ښه یې، ذوالفقار ویل نن سهار دی خپل د زخم کوکونه خلاص کړی اوس خو درد نلری؟

- نه، ښه یم.

استاذ سر وخوځاوه او بیایې شکر وویل لکه چې هغه هم خبره د ویلو لپاره نه درلود؟ عجیب وه د دی پیښو څخه مخکې هر کله به چې ما او استاذ سره یوځای شو نو زموږ خبری او کیسي به نه خلاصیدی خو اوس؟ نه هغه خبره د ویلو لپاره درلود او نه هم ما ... د څو

@Shuhab09

ketabton.com - The Digital Library




دا د زقوم ناول د لومړۍ برخي ښخه تر ۲۰ برخي ناول و نور ناول زما په شخصي تلګرام چینل کي ويلي شې دا يې لینک دی.

https://t.me/pashtoonovels0

يا هم زما فسبوک ایډی و ځاري هلته هم ناول نشر کوم په نوم ده خواجه زی صاحب

تلګرام کې که دا ایډی سرچ کړی او مسج وکړی، نو کامل ناول ترلاسه کولای شی

@shuhab09

ketabton.com - The Digital Library

ketabton.com - The Digital Library

## Thank you for reading

Find more e-books and articles on Ketabton - your multilingual digital library.

**www.ketabton.com**

*Ketabton - Pashto, Farsi, Arabic & English*